**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د
ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تالیف لوی ریاست

# فرهنـــګ

## یوولسم ټولګی

فرهنګ - یوولسم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ.ش.

درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. پلورل او پېرودل يې په
کلکه منع ده. له سر غړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# فرهنګ

## يوولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مؤلفان

ـ عبدالحمید عاطف

ـ فضل الرحمٰن فقیهي

## علمي او مسلکي ایډیټ

ـ دکتور خوش نظر پامیرزاد

ـ عبدالرؤوف حکیمي

## ژباړونکی

احمد شاه زغم

## د ژبې اډیټوران

- محمد امین نژند

- غلام سرور ګلاب زی صافی

## دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه

ـ ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.

ـ حبیب الله راحل  د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې د پوهنې وزارت سلاکار

## د څارنې کمېټه

ـ دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین

ـ دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول

ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو تالیف لوی رئیس

## طرح او ډیزاین

ـ صفت الله مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مِلّي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هــر افغان دی

کور د سولې، کور د تورې — هر بچی یې قهرمـــان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلـــوڅـــو د ازبکـــو

د پښتـــون او هزاره وو — د ترکمنـــو د تـــاجکـــو

ورسره عرب، گوجـــر دي — پاميـــريان، نورستانيـــان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ايمـــاق، هم پشه يان

دا هيـــواد به تل ځليږي — لکـــه لمـــر پر شنه آسمان

په سينـــه کې د آسيـــا، به — لکـــه زړه وي جـــاويدان

نوم د حق مو دی رهبـــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې د وزير پیغام

ګرانو استاذانو، ښوونکو او زده کوونکو!

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي؛ البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، د همدې ارزښتونو پر بنا تدوین او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دارنده مسؤولیتونه لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې برخه کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په تدوین کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په ترتیب او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیک لړ


| خپرکي | د لوست شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|---|
| | سریزه | | ح |
| | دکتاب عمومي موخې او هدفونه | | ۱ |
| لومړی خپرکی | اسطورې او افسانې | | ۲ |
| | لومړی لوست | اسطورې اوافسانې | ۳ |
| | دویم لوست | کیسې او حکایتونه | ۱۱ |
| | دریم لوست | رزمي شعرونه او شهنامه لوستل | ۱۵ |
| | د لومړي خپرکي لنډیز | | ۱۹ |
| دویم خپرکی | ولسي ادبیات | | ۲۰ |
| | څلورم لوست | لنډۍ | ۲۱ |
| | پنځم لوست | متلونه او مقولې | ۲۵ |
| | د دویم خپرکي لنډیز | | ۲۷ |
| دریم خپرکی | جامې او پوښاک | | ۲۸ |
| | شپږم لوست | زموږ د هیواد د خلکو جامې | ۲۹ |
| | اووم لوست | د واده او کوژدې د مراسمو جامې | ۳۳ |
| | اتم لوست | د جشنونو، اخترونو او .... جامې | ۳۵ |
| | نهم لوست | د ماشومانو جامې | ۳۹ |
| | د دریم خپرکي لنډیز | | ۴۱ |
| څلورم خپرکی | واکمني او سیمه ییزه اداره | | ۴۲ |
| | لسم لوست | زموږ د هیواد کورنی توکمیز جوړښت | ۴۳ |
| | یوو لسم لوست | مرکه او جرگه | ۴۵ |
| | دولسم لوست | د تاوتریخوالي او دښمنیو سر چینې، لاملونه ... | ۴۹ |
| | د څلورم خپرکي لنډیز | | ۵۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| پنځم څپرکی | استوګنځایونه، د ودانیو جوړو لو مواد، لارې او طرحې | | ۵۴ |
| | دیارلسم لوست | سمڅې او ختین کورونه | ۵۵ |
| | څوارلسم لوست | څپري کورونه | ۵۹ |
| | پنځلسم لوست | غوجلې | ۶۳ |
| | شپاړسم لوست | کلا،برج او د کوترو کوټې | ۶۷ |
| | اوو لسم لوست | جوماتونه او کاروان سرا یونه | ۷۱ |
| | اتلسم لوست | کاشي کاري | ۷۵ |
| | نولسم لوست | د میناتوری هنرونه | ۷۹ |
| | د پنځم څپرکي لنډیز | | ۸۳ |
| شپږم څپرکی | په سیمه او په هیواد کې لیږد را لیږد | | ۸۴ |
| | شلم لوست | د انسانانو په واسطه لېږد را لېږد | ۸۵ |
| | یووېشتم لوست | په لومړنیو وسایطو سره لېږد را لېږد | ۸۷ |
| | دوه وېشتم لوست | دخارویو په واسطه لېږد را لېږد | ۹۱ |
| | درویشتم لوست | په پر مختللو وسایطو سره لېږد را لېږد | ۹۷ |
| | د شپږم څپرکي لنډیز | | ۱۰۱ |
| اووم څپرکی | لوبې او ورزشونه | | ۱۰۲ |
| | څلرویشتم لوست | سیمه ییزې لو بې | ۱۰۳ |
| | پنځه وېشتم لوست | لامبو وهل | ۱۰۷ |
| | شپږ وېشتم لوست | غېږ نیول (پهلواني) | ۱۱۱ |
| | اوه وېشتم لوست | په بیلابېلو لوبوکې ملي ټیمونه | ۱۱۳ |
| | اته وېشتم لوست | د نړیوال المپیک په لوبوکې زموږ دهېواد.... | ۱۱۷ |
| | د اووم څپرکي لنډیز | | ۱۱۹ |
| | اخځلیکونه | | ۱۱۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

فرهنګ څه شی دی ؟

فرهنګ

شنیــــدم زدانــای فرهنـګ دوست          زهی آنکه فرهنګ ملکش نکوست

زموږ ګران هېواد افغانستان چې په تېرو وختونو کې دآريانا او خراسان په نومونو يادېده، د پېړيو په اوږدو کې د روښانه ملّي او فرهنګي هويت لرونکی و.

زموږ دغه ملّي او فرهنګي هويت عبارت دي له : تاريخ، ژبه، هنرونه، ادبيات، زاړه رسمونه او دودونه، چې د پېړيو په اوږدو کې زموږ د نيکونو په واسطه ايجاد شوي او دوخت په بتيې کې پاخه شوي او وده يې کړې ده .

د دې ملّي او فرهنګي زېرمو او پديدو له يو ځای کېدو څخه زموږ ملّي پېژندپاڼه منځ ته راغلې ده، هره ټولنه فرهنګي تنوع لري، زموږ ټولنه په ملّي فرهنګ راغونډه او زموږ خلک د دې فرهنګ په شتون کې خپل رنګ او بڼه غوره کوي.

په فرهنګ کې علوم، باورونه، ګمانونه، ګروهنې، تهذيبونه، هنرونه، د ژوند لارې، سنتونه او رواجونه ټول شامل دي. په لنډ ډول فرهنګ د يوه ملت د پوهنو، د مادي او معنوي نوښتونو او ابتکارونو ټولګه ده.

ستاسو په لاس کې داکتاب، او وه څپرکي لري،

په لومړي څپرکي کې اسطورې، کيسې او حکايتونه دي چې د خلکو په منځ کې دود دي، په کوم ډول منځ ته راغلي او څرنګه تر نن ورځې رارسېدلي دي؟

همدارنګه رزمي اشعار او د شهنامې لوستلو دود بيان شوی دی.

په دويم څپرکي کې ولسي ادبيات لکه: لنډۍ، متلونه او مقولې دي (د مشت نمونۀ خروار) په ډول ياد شوي دي. تاسې به په يقين سره په سلګونو داسې نورې هم په ياد لرئ او هم به يې راغوندې کړئ.

په دريم څپرکي کې زموږ د خلکو د ساده او د ځانګړو مراسمو د جامو ښېلګې او ډولونه د هغوی له تصويرونو سره درپېژندل شوي دي، چې د کليو، باندو، د ښار اوسېدونکو او د

ماشومانو ځانګړې جامې پکې شاملې دي، له پخوا څخه تر نن پورې دود لري.

په څلورم څپرکي کې زموږ د هېواد د کورنيو او قومونو جوړښت، دکليو او کورنيو ترمنځ اړيکې، د جرګو او مرکو د دوديزې سيمه ييزې و اکدارۍ څرنګوالی، د قومي شوراګانو او جرګو ګټې، مزاياوې او زيانونه بيان شوي دي چې د هغې په باره کې به معلومات ترلاسه کړئ، قضاوت به هم وکړئ او خپل نظرونه او وړانديزونه به د ښاغلي ښوونکي سره شريک کړئ.

په پنځم څپرکي کې به د خپلو اجدادو او نيکونو د ژوند د لرغونو ځايونو، د غارونو پخوانی کورونه، ختين او ځپر ي کورونه، کلاګانې، برجونه، د پلرونو او نيکونو کورونه، د ښارو و غوجلې د هغوی د جوړښت د څرنګوالي او تصويرونو سره وګورئ، او تاسې د دې ټولو سره بلد ياستئ، زموږ د هېواد د جوماتونو، پخوانيو کاروان سرايونو، د معمارۍ هنر، کاشي کارۍ او د ميناتورۍ د هنرونو نمونې پېژنئ او په يقين سره د هغوی د راژوندي کولو، پرمختګ او پراخوالي په فکر کې هم ياست.

په شپږم څپرکي کې د تېر شوي وخت او ننني ورځې د لېږد رالېږد وسيلو ډولونه د انسانانو او ښارو و په ګډون د لېږد رالېږد لومړني او د نن ورځې پرمختللې و اسطې د هغوی د تصويرونو سره ترتيب او تاسې ته مو درپېژندلې دي.

په او وم څپرکي کې د لوبو او بدني روزنې ډولونه بيان شوي دي چې تاسې د لوبو د منځته راتلو په موخو او د ځينو سيمه ييزو لوبو د کولو په طريقو او ګټو سره بلد شئ.

کوم شيان چې موږ په دې کتاب کې راټول کړي دي د بحر د هغو اوبو په شان دي چې په کوزه کې ترې را و اخيستل شي.

زه يقين لرم چې تاسې ځوانان به د دې لوی رسالت څخه خبر ياست، پام به مو وي او کوښښ به کوئ چې د هېواد د ګټور، پراخه او لوی فرهنګ راغونډولو او روښانولو ته به پام کوئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب عمومي موخې او هدفونه

د دې کتاب له تدریس څخه وروسته تر هرڅه دمخه باید د خلکو ترمنځ په هر اړخیز ډول سره ملي یو والی او یو موټې کېدل ټینګښت ومومي.

د خلکو د ډول ډول فرهنګونو سره د زده کوونکو د درناوي روحیه ټینګه شي او زده کوونکي باید زموږ د هېواد د ټولو سیمو له فرهنګ سره بلد شي.

د زده کوونکو معلومات او پوهه به په دې برخه کې دومره پراختیا ومومي ترڅو وپوهېږي چې زموږ د خلکو فرهنګ او زموږ د هېواد هویت د نړۍ په کچه معرفي کړي.

زده کوونکي دې داسې مهارتونه ترلاسه کړي چې زموږ د فرهنګ محوري او مرکزي ارزښتونه موږ د یوه افغان په توګه معرفي کړي.

زده کوونکي دې داسې مهارت ترلاسه کړي چې د خپلې سیمې پر فرهنګ سربېره زموږ د ګران هېواد د نورو ولایتونو او سیمو فرهنګ وزغمي، هغه زده کړي او په هغې باندې د افغانستان د خلکو د ګډ فرهنګ په توګه وویاړي.

د دې کتاب لوستل له دې اړخه ارزښت لري چې:

د فرهنګ مضمون ته د هېواد په تعلیمي نصاب کې نوی ځای ورکړ شوی دی او تاسي په یقین سره د خپلې ټولنې د خلکو د فرهنګ له ځانګړتیاوو او څرنګوالي خبرباستئ. لکه څنګه چې فرهنګ د یوه ګډ میراث په توګه زموږ په خلکو پورې اړه لري او زموږ د ټولنې د ملي هویت څرګندوی دی.

تاسې زموږ د هېواد او خلکو د بډای فرهنګ سره له مخکې بلد یاست او د دې کتاب په لوستلو سره به تاسې د ولایتونو او د هېواد د بېلابېلو سیمو د خلکو د فرهنګ سره نور هم بلد او د خلکو د ګډکلتور سره به ستاسې مینه لا زیاته شي او د هغې د بیا رغولو، ساتلو، فرهنګي پراختیا او ودې ته به پاملرنه وکړئ او خپل فولکلوریک اصالت به وساتئ او د غیر اسلامي او د غیر افغاني عناصرو د فرهنګونو له منلو څخه په کلکه ډډه وکړي. زده کوونکي به د دې کتاب په لوستلو او د هغې د محتواو و(منځپانګو) او موضوعګانو سره بلدتیا او د ښوونکي د هدایت او لارښوونو سره سم به د پوښتنو او ځوابونو په طریقه د دې د لوستونو په زده کولو سره زیاتې تجربې ترلاسه کړي.

# لومړی څپرکی


## اُسطورې او افسانې رزمي شعرونه او...

د دې څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي زموږ د هېواد د خلکو د عاميانه لاسته راوړنو سره بلد شي او د هغوی محتواوې، توکي، مفاهيم او ارزښتونه به وپېژني.

زده کوونکي به د خلکو په منځ کې په دې ډول ادب، دود او تاريخي قدامت باندې پوهه شي، له يوه نسل څخه بل نسل ته د هغې د انتقال او د پيړيو په تېرېدلو سره چې کوم بدلونونه په دې کې راغلي دي، وپېژني.

زده کوونکي به د خلکو په ټولنيز ژوند کې د دې ډول ادب په گټو، ښېگڼو او اغېزو باندې پوه شي او د هغو معروفو او مشهورو کتابونو سره به چې د حماسي داستانونو، حکايتونو او اسطورو لرونکي دي، آشنا شي.





لومړی تصوير

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست:

# اُسطورې او افسانې

- اسطوره څه ته وايي؟
- تاسو څو افسانې اورېدلي او په ياد مو دي؟


(۲) تصوير

**اسطوره** : زموږ د خلکو د عاميانه لاسته راوړنو يوه اساسي برخه ده. دغه وګرنيزه ادبي برخه د تېرو وختونو په اوږدو کې زموږ د خلکو د لوړو خيالونو او تصوراتو محصول دی چې له يوه نسل څخه بل نسل ته را رسېدلي او تر نن پورې يې دوام کړی دی.

اسطورې هغه داستانونه دي چې ډېر ځله خيالي او جوړه شوې محتوا لري او زياتره د هغو شته والي او عملي توب د عقل له پلوه شو ونی نه برېښي، خو افسانې کله عادي او کله اسطورو ته ورته محتوا لري.

د اسطورو اصلي توکي د افرادو، پېښو او پد يدو په ستاينه کې زياته مبالغه ده، لکه: د فردوسي شهنامه او ځينې نور داستانونه چې اسطوره يې محتوا لري او داسې ښکاري چې له ځانه جوړ شوي وي او يا د هغې په اصل کې نور مطلبونه او پېښې د مبالغې په ډول ورزيات شوي وي.

اسطوره د يوه قوم د تاريخي او نا ليکل شو و خيالونو او د هغوی د تاريخي شته والي هنداره او سريزه ده. اسطوره د يوه قوم د ملي او ټولنيزو ارزښتونو بېلګه ده. داسې چې د کيسو په قالب کې د هغه قوم د زړه راښکونکو غريزوي او آرماني هيلو ترجماني کېږي. د اسطورې تر ټولو مهمه ځانګړنه د هغې غير عادي ژبه او جوړښت دی.




(c) ketabton.com: The Digital Library

اسطورې له عقل او باور څخه لرې په نامعلوم زمان او مکان کې د غیر عادي، خیالي او د ډېرو غښتلو قهرمانانو غیر عادي او نا آشنا کیسې دي.

د بېلګې په ډول: د فردوسي شهنامه په نړیواله کچه تر ټولو ستر حماسي اثر او محتوا یې د لرغونو قومونو د اسطورو ټولګه ده. فردوسي په خپل منظوم حماسي اثر کې لرغوني اسطوروي میراثونه په استاذانه ډول په دري ژبه منظوم کړي دي.

اسطوروي کیسې او پخوانۍ حماسي سندرې په نالیکلي او شفاهي توګه د سندربولو او بزګرانو په وسیله سینه په سینه او خوله په خوله وروستیو نسلونو ته را رسېدلي دي او د فردوسي د شهنامې بنسټیز آرونه جوړوي.



(۳) تصویر

## افسانه (کیسه)

افسانې د خلکو د ژبنیو لاسته راوړنو یوه غوره برخه ده. دا ډول خبرې له لرغونو وختونو څخه را په دې خوا د خلکو په ټولنیز او عاطفي ژوند کې موجودې دي.

انسانان له پخوا زمانو را په دې خوا د افسانو له ویلو او اورېدلو سره مینه لري. په ځانګړې توګه دغه مینه په ماشومانو او ځوانانو کې ډېره زیاته ده.

ماشومان د ژمي په شپو کې تر تودو صندلیو لاندې او یا په تودو کوټو کې د خپلو نیاګانو یا د باباګانو چار چاپېر را ټولېږي دوی د دیوانو او ښاپېرو، آدم خان او درُ خانۍ، مؤمن خان او شیرینو، بهرام او ګل اندامې، ورقه او ګل شاه، شیر عالم او میمونې، یوسف او زلیخا او نورو افسانو په برخه کې کیسې کوي. او داسې یې پیلوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| و، نه و، یو پـاچا و | ناست په دو کانچه و |
| مـا و وېشت په ډېره | هغه ولـوید په لکـړه |

یا په دري ژبه (افسانه، سي سانه، چهل مرغک ده یک خانه)


یا: یو و، یونه و غیر له خدایه بل څوک نه و

یا: یکی بود یکی نبود، غیر از خدا هیچ کس نبود


(٤) تصویر د غلغلی ښار (بامیان)

او په داسې ویناو و او جملو کیسې پیلوي او ماشومان یې په مینه سره اوري.

زموږ ګران هېواد چې له پخوا زمانو راهیسې یو بډای فرهنګي هېواد و، تل یې په خلکو کې د افسانو ویل او اورېدل دود و او تر ننه پورې دوام لري، لکه:


(٥) تصویر

د مرد او نامرد، وري او لېوه کیسې د کلیلې او دمنې کیسې چې د ځناورو او ښاروېو په ژبو یې وایي. همدارنګه د هزارویکشب، فقیر ادهم، شیر او نجار، زمري او ګیدړې، زمري او بابه دهقان، د بابه خارکش او په لسګونو نورې افسانې.

په پخوا وختونو کې چې خلکو ډېر کارونه، نه درلودل او هم د بوختیاو و نننی وسایل لکه رادیو، تلویزیون، او... هم نه و، نو خلکو خپل وزګار وختونه د ګټورو خبرو او کیسو په اورېدلو تېرول او د ژمي په اوږدو شپو کې به یې کیسې او افسانې ویلې.

نن هم زموږ د خلکو په منځ کې د کیسې کولو دود شته، خو د تېرو وختونو په پرتله دومره زیات نه دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د افسانو منځ پانګه (محتوا)

وګړنيزې کيسې يا افسانې ډول ډول منځپانګې لري او هره کيسه موږ ته د تېرو خلکو د ژوند د عادتونو او آرمانونوټولې خواوې ښيي. په افسانو کې له عقله لرې برخليکونه او په زړه پورې پېښې تمثيلېږي، لکه: د جادوګرۍ، توردېو، سپين ديو، سيمرغ، د کوه قاف ښاپيرۍ، اتلانو، رستم او نورو رولونه د يادونې وړ دي.

څرنګه چې په افسانو کې ټولنيزې چارې او د تېرو خلکو ترمنځ اړيکې له يو بل سره بيانېږي؛ همدارنګه د حرص، ظلم او برلاسي، قهر،غوسې، کينې، د دروغو څخه بد ويل کېږي او ښه فضايل او خصلتونه لکه رښتيا ويل، پاک زړه توب، عدالت، مينه، قناعت، زغم، حوصله او سرښندنه ستايل کېږي. بايد ووايو چې ځينې افسانې زموږ د تېرو خلکو د سپېڅلي مينې ښکارندوي او د مخکنيو خلکو او ټولنو د ارادو او عواطفو ښودونکې او څرګندونکې ګڼل کېږي.

افسانې موږ ته د وفادارۍ او مينې درس راکوي او پندونه ترې اخيستل کېږي.

کله ناکله وګړنيزې افسانې په بېلابېلو ځايونو او وختونو کې په يو او بل ډول موږ ته را رسېدلي دي، نو د لېږد او انتقال د زمانې په بهېر کې يې له يوه نسل څخه بل نسل ته بدلون موندلی دی.

تاسې يو له هغو افسانو څخه چې د خلکو په منځ کې دود دي په لاندې ډول لولئ:

## د زمرت Zumrat او قيمت کيسه (افسانه)

و، نه و، غير له خدای ﷻ بل څوک نه و.

په تيرو زمانو کې يو سړی و، چې د يوه ځنګله په څنګ کې يې ژوند کاوه. دغه سړي دوه لورګانې او دوه ښځې درلودې، ديوې. لور نوم يې (زمرت ) او د بلې نوم (قيمت) و. قيمت لټه او (زمرت) هوښياره او خواريکښه نجلۍ وه. د (قيمت) مور به تل خوابدې او نارامه وه چې لور يې ولې لکه د (زمرت) غوندې هوښياره نه ده.

(قيمت) ته به يې چې څومره نصيحت کاوه ګټه يې نه کوله او له بل پلو به يې له (زمرت) سره کينه او بدي کوله او د هغې د له منځه وړلو په فکر کې وه.

یوه ورځ یې د تل په شان خپل مېړه ته د ‹‹زمرت›› څخه سر وټکاوه او شیطاني یې ورته وکړه، ‹‹زمرت›› یې د پلار په نظر کې لټه، بېکاره او بدګزاره معرفي کړه او ویې ویل: «که دا لور دې له کوره ورکه نه کړې، نو زه له کوره ځم» خو ورځې او هفتې یې خپل مېړه وګواښه.

د ‹‹زمرت›› پلار بله چاره نه لرله او هغه یې له ځان سره یوه ځنګله ته بوتله او د ځنګله په یوه ګوښه کې یې پرېښوده. خپل تبر یې را واخیسته او د ځنګله بلې خوا ولاړ. تبر یې په یوه ونه کې وځړاوه او خپله د ‹‹زمرت›› له نظره په پټه بېرته کورته وګرځید، ‹‹زمرت›› یې په ځنګل کې یوازې پرېښوده.

د ورځې په اوږدو کې یې باد تبر ښوراوه او په ونه لګېده. ‹‹زمرت›› د تبر د غږ په اوریدو تر ماښامه پورې فکر کاوه چې پلار یې ونې غوځوي.

کله چې ماښام او تیاره خپره شوه او پلار یې رانه غی، ناچاره په وېره وېره د تبر د غږ په لور لاړه او هلته یې ولیده چې تبر باد په ونه وهي او پلار یې نشته. ډېره وویریده، یو خوا بله خوا یې منډې و وهلې او د پلار جان، پلار جان! نارې یې وهلې. په ډېرو منډو او لټونونو په تیاره شپه کې روانه وه، آخر یې د ځنګله په یوه ګوښه کې یوه تته رڼا ولیده، ځان یې هلته ورساوه. ګوري چې یوه کوټه ده او په هغه کې یوه جادوګره ښځه ناسته ده. دکوټې دروازه یې ور وټکوله، اجازه یې واخیسته، دننه شوه او سلام یې ور واچاوه. جادوګرې ورته وویل:‹‹ علیکم السلام، اې نازنینې نجلۍ، نږدې راشه! ولې ژاړې او په دې نیمه شپه په ځنګله کې ولې سرګردانه یې ؟›› زمرت پېښه ورته بیان کړه.

جادوګرې د هغې په سر لاس کش کړ. ډاډ یې ورکړ او بیایې خواړه ورکړل. ‹‹زمرت›› خواړه وخوړل او څرنګه چې ډېره ستړې شوې وه، نو ویده شوه، سهار وختي چې کله له خوبه راوېښه شوه په ټول انګړ کې یې اوبه وشیندلې او جارو یې کړ. د سهار چای یې برابر کړ او جادوګرې ښځې ته یې غږ کړ چې: « پاڅېږئ چای تیار دی!».

هغه چې له خوبه پاڅېده، ګوري چې دکور ټول انګړ دهنداري په څېر پاک او ستره شوی دی، توده ډوډۍ او چای تیار دي. ډېره خوشحاله شوه. دواړو د سهار چای وخوړ او بیا یې د غرمې او ماښام خواړه هم په همدې ډول برابر کړل. خو ورځې په دې ډول تېرې شوې. جادوګره ښځه



(c) ketabton.com: The Digital Library

له زمرت څخه ډېره خوشحاله وه او لاس به يې وربانديې تېراوه. زمرت هم ډېره خوشحاله وه، هره ورځ په ځنګله کې د شنېلېو او ونو ترمنځ ګرځيده او د هغو ننداره به يې کوله. خود زمرت مور او پلار ډېر غمجن وو او موربې شپه او ورځ ژړل.

يوه ورځ زمرت بام ته وختله چې خس او لرګي راکوز کړي، ناڅاپه يې خپل کور وليد، ډېره غمجنه شوه، په ژړا يې پيل وکړ، جادوګرې ترې وپوښتل: « لورې، ولې ژاړې؟ هغې وويل: خپل کور مې وليد. نو ژړا راغله.»

ښځې ورته وويل: «ګرانې لورې! مه ژاړه. زه به تا مورجانې او پلار ته ور ولېږم، د بام پر سر دوه شنه او تور صندوقونه دي، شين صندوق له ځان سره را ښکته کړه» زمرتې صندوق له ځانه سره راکوز کړ.

جادوګره وروسته ځنګله ته لاړه او يوه ښکلې ګاډۍ چې په آس پوري تړلې وه راوسته. صندوق يې په ګاډۍ کې کېښود او د صندوق کونجی يې زمرتې ته ورکړه او ورته ويې ويل: «ګرانې لورې! ګاډۍ کې سپره شه او خپل کورته دې لاړه شه! کله چې کورته ورسېدې نو صندوق به په کور کې خلاص کړې.»

زمرته په ګاډۍ کې سپره شوه او ګاډۍ نيغه کورته ورسوله. پلار، مور او ګاونډيان د زمرتې په ليدو ډېر خوښ شول، خو ميره يې غمجنه شوه. زمرتې هغوی ته ټوله کيسه وکړه.

کله چې شپه شوه نو زمرت په کوټه کې خپل صندوق را خلاص کړ، ګوري چې صندوق له ورېښمينو جامو او طلا يي ګاڼو څخه ډک دی، خوښي يې لا ډېره شوه.

سبا چې د قيمتې مور له ورېښمينو جامو او طلاوو ډک صندوق وليد، بخيلي او کينه يې لا ډېره شوه او ميړه ته يې وويل: « قيمته هم سبا ځنګله ته يوسه!

قيمته يې سبا پلار ځنګله ته بوتله، د ځنګله په يوه ځا ی کې يې پرېښوده، تبر يې په ونه کې وځړاوه او پخپله پټ کورته ستون شو. نيمه شپه قيمته په ژړا د جادو ګرې کورته ورغله، د جادوګرې دروازه يې له ټکولو او اجازې پرته پرانيسته ور دننه شوه او سلام يې هم وانه چاوه. دا چلند د جادوګرې خوښ نه شو. څه خواړه يې قيمتې ته راوړل، هغه يې وخوړل او ويده شوه. سهار چې جادوګره له خوبه پاڅېده ګوري چې قيمت لا تر اوسه ويده ده. د سهار چای يې تيار کړ



(c) ketabton.com: The Digital Library

او قیمته یې له خوبه راوېښه کړه.

قیمته په ډېرې لتې له خوبه را پاڅیده، چای یې وڅښه. ژړل یې او هېڅ کارته یې لاس نه ور وړ. جادوګرې ښځې ورته وویل:

« قېمتې، پاس بام ته وخېژه او لرګي را ښکته کړه.» هغې وویل: «خپله یې را ښکته کړه!» جادوګره بام ته وختله او د لرګیو پرځای یې تور صندوق له بامه راښکته کړ، ګاډۍ کې یې کېښود او قیمتې ته یې وویل: «ګاډۍ کې کېنه او خپل کورته ولاړه شه!» قیمت په خوشحالۍ سره په ګاډۍ کې کښیناسته او ان ماښام تیاره خپل کورته ورسیده. د هغې په لیدو سره یې مور ډېره خوشحاله شوه او ګومان یې وکړ چې قیمتې به هم له ګاڼو او جامو ډک صندوق راوړی وي.

د شپې له خوا قیمت او مور یې خپلې کوټې ته ننوتل او دروازه یې وتړله. په بېړه او حرص سره یې صندوق پرانسته او په ډېره حیرانتیا سره یې ولېدل چې په صندوق کې دوه ښاماران پراته دي. ښاماران بې له ځنډه له صندوقه را ووتل او پر قیمت او مور یې یرغل وکړ. هغه او مور یې د کوټې له یوه کونجه بل کونج ته تښتیدلې، چیغې یې وهلې، هر څومره چیغې او شور ماشور چې یې وکړ، څوک د هغوی مرستې ته را ونه رسېدل.

په پای کې ښامارانو قیمت او د هغې مور له ستونې تېرې کړلې اود بام له سوري څخه بهر تښېدلي وو.

د قیمت پلار او ګاونډیانو چې د هغوی چیغې او نارې اوریدلې وې، کله یې چې کور ته راغلل وَر یې مات کړ او کوټې ته دننه شول ګوري چې کوټه کې هېڅوک نشته.

په دې ډول قیمت او د هغې مور د بخیلۍ، حسادت او بدګوزرانۍ له امله له منځه لاړې.

له هغه وروسته بیا زمرت، مور او پلار یې په ډېرې خوښې سره خپل ژوندکاوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې د خپلې سیمې د مشهورو افسانو نومونه واخلي.

### پوښتنه

ـ کوم ډول کیسې (اساطیرې او که غیر اساطیرې) ستاسو لپاره په زړه پورې دي؟

### کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د خپلې کورنۍ له غړو څخه کیسې واوري او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کيسې او حکايتونه

- تاسو تر اوسه پورې څو کيسې او حکايتونه اورېدلي او په ياد مو دي؟

کيسې او حکايتونه د هرې ټولنې د فرهنګ مهمې برخې جوړوي.

دا ډول کيسې کله ځانته ادبي بڼه پيداکوي او په کتابونو کې راځي، اما کيسې په عمومي ډول د خلکو په منځ کې دود لري او په شفاهي ډول له يوه نسل څخه بل نسل ته د زمانو په اوږدو کې را رسيدلي دي.

ځينې کيسې ځانګړي ويونکي لري او د ټاکلي فرد يا قوم برخليک بيانوي؛ خو ځينې يې بيا ځانګړي ويونکي نه لري او د هغه قوم يا شخص په اړه چې کيسې ويل شوې دي ويونکی يې معلوم نه وي.

کيسې او حکايتونه ډول ډول محتواګانې لري او هغه بېلابېل برخليکونه بيانوي چې د بشري ټولنې په خلکو کې موجودې دي. دا هغه کيسې دي چې اخلاقي، عرفاني، عشقي، ټولنيز، ديني او نور له پنده ډک مفاهيم او معناوې لري.

## د کيسې او افسانې توپير

کيسه ډېر ځله له واقعيتونو سره سمون لري او که ساخته ګي هم وي، د انسان عقل د هغوی شتون او موجوديت ناشونی نه ګڼي، يعنې کيسه ديوه فرد او يو قوم هغه تېريادونه او برخليکونه دي چې يا په هماغه ډول واقع شوي وي او ياکيداى شي هغو ته ورته کيسې پېښې شوې وي.

خو افسانه خيالي او اسطوره يي خواوې لري او د انسان عقل د هغو وجود او پېښيده محال ګڼي. په بله وينا افسانې او اسطورې سره ګډې دي خو کيسې او حکايتونه د اسطورو سره يو والی نه لري او کېداى شي چې د ژوند له واقعيتونو سره سمون و لري.

لاندې يو حکايت د بېلګې په توګه را نقل شوی دی:

# حکایت

وایي په پخوا زمانو کې په ترکستان کې یو سوداګر و چې د هندوستان تجارت یې کاوه. یوه ورځ دغه سوداګر هندوستان ته د سفر ملا وتړله. څرنګه چې دود و له خپلو زامنو او کورنۍ څخه یې پوښتنه وکړه چې څه سوغاتونه تاسو ته راوړم؟

د کورنۍ هر غړي له خپل ذوق سره سم څه کالي، شال او د ګاڼو فرمایش ورکړ. سوداګر یو طوطي هم درلود، له هغه څخه یې هم پوښتنه وکړه: «تا ته له هندوستان څخه څه سوغات راوړم؟»

طوطي وویل: «کله چې د هندوستان له پلانکۍ سیمې څخه تیریدې، هلته یو ځنګل دی چې زما خپلوان پکې ژوندکوي. زما سلامونه هغوی ته ورسوه او د هغوی د روغتیا او سلامتۍ احوال ماته راوړه.»

سوداګر له کاروان سره حرکت وکړ او د اوږدو لارو له وهلو او د سفر له کړاوونو زغملو وروسته هندوستان ته ورسېد. خپل مال یې خرڅ کړ. هندي کالي، متاع او ګرانبیه سوغاتونه یې خپلې کورنۍ او نورو ته واخیستل او د بېرته راتګ هوډ یې وکړ او د خپل طوطي له فرمایش سره سم د هغې سیمې ځنګله ته ورغی او هلته یې د طوطیانو یو لوی سیل ولید.

سوداګر د طوطیانو سیل ته سلام ور واچاوه او د خپل طوطي سلام یې هغوی ته ورساوه.



(۶)تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library

نابېره د طوطيانو له ډلې يو طوطي له ونې څخه پر ځمکه راولويد او مړ شو. سوداګر دغه پېښې ته هک پک پاتې شو چې څنګه د پيغام رسول د طوطي د مړينې لامل شو ؟ په ډېرخپګان له هندوستان څخه را روان شو او له خپلو مالونو سره د سفرونو له وهلو وروسته خپل کور ته راورسيد او د خپل کور د ټولو غړو سوغاتونه يې هغوی ته و ويشل، ټول خوشحاله شول.

طوطي پوښتنه وکړه « زما پيغام دې زما خپلوانو ته ورساوه ؟»

سوداګر و ويل: « هو، خو کاشکې دغه پيغام مې نه وای رسولی. دا پېښه به نه رامنځ ته کېده.» د هغې پېښې حکايت يې ورته وکړ.


(۷) تصوير، کاروان

طوطي د دغې کيسې په اوريدو سره سمد لاسه په رپېدېدو شو، په ځمکه راولويده او داسې فکر کېده چې مړ شو. سوداګر هک پک پاتې شو او ډېر خپه شو، نو د قفس دروازه يې خلاصه کړه او د چا خبره د طوطي مړی يې له قفس څخه د باندې واچاوه. سمدلاسه طوطي والوت او د ونې په څانګه کښېناست.

سوداګر د طوطي له دغه حرکته لا حيران شو او د طوطي د دغو حرکتونو راز يې له هغه وپوښته. طوطي و ويل: «ما مې خپلوانو ته پيغام ولېږه چې په قفس کې بندي يم او څنګه کولای شم د قفس له زندان څخه ځان خلاص کړم ؟»


(۸) تصوير، طوطي

زما خپلوانو عملاً ما ته ښوونه وکړه چې د قفس څخه ستا د خلاصيدو لاره همدا ده چې: «نورې خبرې مه کوه او خپل ځان مړ واچوه، هغه وخت د سوداګر په درد نه خورې، تا له قفس څخه د باندې اچوي او آزاد به شې».

«ما د هغوی عملي درس او پوهو ونکی پيغام پلی کړ، دا دی مقصد ته ورسېدم او آزاد شوم. او س



(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د خدای په امان!» دا خبره یې وکړه او والوت. له ډېر مزل وروسته یې ځان هندوستان ته ورساوه او له خپلو خپلوانو سره یوځای شو.

### په ټولګي کې فعالیت

- له زده کوونکو څخه دې یو کس نورو ته یوه کیسه ووایي.

### پوښتنې

- هغه کتابونه، چې په هغو کې ډېرې کیسې راغلي دي، کوم دي؟ نومونه یې واخلئ.
- په خلکو کې د کیسو کول او اورېدل څه ګټې لري؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ له غړو څخه د کیسو پوښتنې وکړي، هغه دې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رزمي شعرونه او شهنامه لوستل

- تاسو د رزمي او حماسي شعرونو او داستانونو په اړه څه پوهېږئ او تر اوسه مو په دغه برخه کې له چا څخه څه اوریدلي دي؟

## رزمي او حماسي شعر

رزمي او حماسي شعر له تاریخ څخه دمخه دورې او د پخوانیو انسانانو د ژوند د پېښو سپړونکي دی. د یوه ملت هغه ارمانونه چې تاریخ، اسطوره، خیال او ربښتیا ورسره ملګري وي، رانغاړي.


حماســي شعر د یوه ملت تاریخ، هېلو او آرمانونو ښــکارندوی دی یا په بله وینا په منظومه بڼه د هغه ملت د تېرو خیالي کیســو تاریخ دی. دغه ډول حماســي شعر څو اړخیزه داستان دی چې له بېلابېلو موضوعګانو، اســطورو، د پهلوانی له افســانو، تاریخ، فولکلور، د ښو ونیز مذهبي حکایتونو، اخلاقي او فلســفي نظریو او د حیواناتو له داســتانونو، د قهرمانانو له زړه ورتوب، اتلولیو او فوق العاده کارنامو څخه خبرې کوي. همدارنګه حماســي نظمونه سربېره پر دې چې د یوه ملت د قهرمانانو، زړورتیاوې، جګړې، مدني ځانګړتیاوې، اخلاقي او فرهنګي حالت تمثیل او بیانوي. همداراز کېدای شــي حماســه د یو ملت د تمدن د یوې برخې او یا د تمدن د ټولو برخو ښودونکې هم وي چې د زمانو په اوږدو کې منځ ته راغلې دي.

## د رزمي او حماسي شعر ځینې نورې ځانګړتیاوې

۱ـ حماسي شعر د قومي، توکمیزو، ملي قهرمانیو او جګړو بیانوونکی دی.

۲ـ په حماسي شعر کې ځاروي عجیبه او فوق العاده پیاوړتیا لري. لکه چې په شهنامه کې د رستم رخش (آس) له زمري سره جګړه کوي، سیمرغ زال روزي. د عطار منطق الطیر حماسي او عرفاني شعر کې سیمرغ پیاوړي رول لري. همدارنګه د وزرلرونکي آس کېسه، د (هما) د سعادت مرغه او د اووه سرې ښامار رول د یادولو وړ دی.

۳ـ په حماسي شعر کې دارویي بوټي فوق العاده رول لري.



(۹) تصویر

۴- په حماسي شعر کې خبرې له ډارونکو او خیالي موجوداتو څخه وي، لکه: دیوان، غولان، جادوګران او طلسمونه او د حماسي اتلان او قهرمانان ډارونکي خیالي ځناوران وژني لکه څنګه چې رستم او اسفندیار په خپلو «هفت خوانونو» کې بنامار وژني. د دغه ډول حماسي شعرونو ویونکي زموږ د ټولنې په بډای فرهنګي حوزه کې زيات لیدل شوي دي، مثالونه یې د سومري ګیل ګیمیش، د هندیانو مها بهارت، په اوستا کې مهریشت او زامیادیشت او د فردوسي د شهنامې لومړۍ برخه د فریدون تر ژوند پورې او طوسي اسدی، ګرشاسب نامه او د بلخي ابوالمؤید شهنامه، همدارنګه د مسعود مروزی شهنامه او ابوالعلای بلخی شاهنامو کې دغه ټکی لیدل کېږي. په پښتو ادب کې مؤمن خان او شیرینو او په ترکي ژبه کې دګوراوغلی مشهور حماسي داستان د یادولو وړ دی.

## شاهنامه لوستنه

د شپې ناسته او د حماسي داستانونو لوستل زموږ د هېواد د وګړنیز او لرغوني فرهنګ یوه برخه ده؛ خو د راډیو تلویزیون د رامنځته کېدو سره دغه پخوانی او لرغونی دودکم شوی دی، مګر په تېرو دورو کې د شاهنامې لوستل زيات دود و.



(۱۰) تصویر، دشهنامې لوستلو مجلس

په پخوا وختونو کې به دا دود و چې په ژمي کې خلکو کار لږ او وخت زيات درلود. په یوه ځای یا کور کې به راټولېدل او یو تن به چې د فردوسي شهنامې حماسي شعرونو په لوستلو کې مهارت درلوده، هغه به یې په ډېر ذوق سره لوستل او نورو به په پوره مینې سره اورېدل او له هغو به یې خوند اخیسته.

لکه چې وویل شول هغه داستانونه، چې د شپې په ناستو کې لوستل کېدل، زیاترو یې، حماسي او رزمي بڼه




(c) ketabton.com: The Digital Library

درلوده چې زموږ د هېواد د سترو شخصیتونو او مشرانو د جګړو او اتلولیو د تاریخ بیانونکي وو او خلکو به يې اوریدو ته ډېره مینه درلوده. دلته به د شهنامې یوه وړه ټوټه تاسوته وړاندې کړو:

## د رستم په لاس د سهراب وژل کېدل

دگـــــر باره اسپـــان ببستند سخت — به سر بـــــرهمی گشت بدخواه بخت
بـــه کُشتی گرفتـن نهـــادنـدسـر — گـــــرفتند هـــــردو دوال کمـــر
سپهـــدار سهـــــراب و آن زوردست — تـــو گفتی که چـــرخ‌بلندش ببست
غمـــی گشت رستـــــم بیازید چنگ — گـــرفت آن ســـر و یال جنگی پلنگ
خـــم آورد پشت دلاور جـــــوان — زمـــانـه ســـرآمد نبودش تـــــوان
زدش بـــر زمین بر،به کـــــردارشیر — بدانست کـــو هم نـمانــدبـــه زیـــر
سبک، تیغ تیـــز از میان بـــر کشیـد — بـــرِ پـور بیداردل بـــــر دریـــد
بپیچید سهـــــراب و پس آه کـــــرد — ز نیک و بد، اندیشـه کــــوتـاه کـرد
بدو گفت گـــــر زانکه رستـــم تویی — بکشتی مـــــرا خیره بـر بـد خـویـی
ز هـــر گونه بودم تـرا راهنمــــــای — نجنبید یـک ذرّه مـهـــــرت ز جـای



(۱۱) تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library

کنون بند بگشای از جوشنم — برهنه ببین این تن روشنم

به بازوم بر مُهرهٔ خود نگر — ببین تا چه دید این پسر از پدر

چو بگشاد خفتان و آن مُهره دید — همه جامه بر خویشتن بردرید[۲]

### په ټولګي کې فعالیت

- د هر زده کوونکي چې حماسي او رزمي داستان زده وي نورو ته دې و وایي.

### پوښتنې

- فردوسي خپله شهنامه زموږ د هېواد د کوم پاچا په تشویقونه کې ویلې ده؟
- د حماسي داستانونو او ربدل څه ګټې لري؟
- د شهنامې ځوبیتونه موزده دي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ له غړو څخه هغه حماسي داستانونه چې د خلکو په منځ کې رواج لري، ثبت کړي او په راتلونکي ورځ دې ټولګي ته له ځانه سره راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي لنډيز

اسطورې، افسانې، کيسې، رزمي او حماسي شعرونه

اسطورې د پېړيو په اوږدوکې د عاميانه فرهنګ او د لوړو خيالونو د لاس ته راوړنو د بنيادي برخو څخه دي.

د اسطورو اصلي عناصر په پېښنو او پديدو کې د وګړو په ستاينه کې له اندازې څخه زياته مبالغه او غلو کول دي.

اسطورې په نا معلوم مکان او زمان کې له عقل څخه لرې د غير عادي او د ډېرو قوي قهرمانانو خيالي کيسې دي.

افسانه هم د خلکو د ژبنيو لاس ته راوړنو يوه برخه ده چې کله عادي او کله اسطوره يې محتوا لري.

کيسې په زياته اندازه له واقعيتونو سره سمون لري او که چېرته له ځانه هم جوړې شوي وي د انسان عقل د هغې وجود او پېښېدل محال نه ګڼي.

رزمي او حماسي شعرونه له تاريخ څخه مخکې د پېښنو او د بشر د ارمانونو بيانوونکي دي.

رزمي او حماسي شعر د پخوانيو د وياړونو او له غرور څخه د ډکو هيلو خيالونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی


# ولسي ادبيات

## د دې څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي زموږ د هېواد د خلکو د عاميانه ادبياتو له مهمو او شکلي برخو سره آشنا شي او د دې ډول ادب محتواوې او موضوعات به وپېژني.

زده کوونکي دې د خلکو په منځ کې د دې ډول ادب له دود او تاريخي سابقې سره آشنا شي. زده کوونکي به په ورځني ژوندکې دخلکو په فکر او ژوندانه باندې ددې ډول ادب په ګټو، مزاياوو او اغېزو وپوهېږي.

زده کوونکي به د ضرب المثل او مقولې ترمنځ توپير او د دې دواړو په کارولو باندې پوه شي.



(۱۲) تصوير، د نورستان ښکلې طبيعت

# لنډۍ

ـ ستاسو څو لنډۍ زده دي؟

لنډۍ زموږ د خلکو د وګړنيزو ادبياتو مهمه او ښکلې برخه ده. دغه ډول ادبيات زموږ د خلکو د ژوند حالاتو، عادتونو، طريقو، احساساتو، عواطفو، شور او زوږ بيانوونکي دي چې ځانګړې اهميت لري.

لنډۍ خپل ځانګړی وزن، ښکلا او اصالت لري او زموږ د ټولنې د فرهنګي ارزښتناکو شتمنيو په توګه د خلکو او ټولنې په منځ کې ځای لري.

د لنډيو ويونکي څرګند نه وي او نشو کولی هغه په ګوته کړو چې د چا له خوا ويل شوي دي؛ ځکه زموږ د خلکو د ادب دغه ډول له لرغونو زمانو څخه را پاتې دی او د چا په نامه نه دی ثبت شوی؛ له همدې امله ډېر خلک هغه په ياد لري او له يوه نسل څخه بل نسل ته انتقال شوي دي.

دا ښکاره خبره ده چې لنډيو د عوامو خلکو له طبعي څخه سرچينه اخيستې ده.

لنډۍ زموږ په ټولنه کې ډول ډول محتواګانې لري،کله مينه او محبت پکې څرګندېږي، کله هم ټولنيز موضوعات پکې څېړل کېږي او کله هم د ناکاميو په وخت د درد او سوز بيانوونکي وي او ځينو نورو يې زموږ د خلکو د حماسي ژوند ځينې اړخونه بيان کړي دي.

لاندې يو څو لنډۍ د بېلګې (مشت نمونه خروار) په توګه راوړو:

ګلـــــونـه ډېـر درســـــــره راوړه  زه د اور بـل د پاسـه چتـر جوړومـه

اصـيــل ګـــلاب راڅـــخــه ورک دی  کـم اصل ګل کـه بـويـوم ډک دي باغونـه



(c) ketabton.com: The Digital Library

گلابه دا قدر دې بس دی    چې جینکۍ دې په اوربل کې گرزوینه
مخ دې گلاب سترگې دې شمعه    زه نه پوهېږم چې پتنگ که بوراشمه؟



(۱۳)تصویر

آشنا مې نوی سوداگر دی    په سر بازۍ کې به لونگ راته راوړینه
په لویو غرو د باران شور شو    ښکته لانده شول د لونگو درمندونه



(۱۴)تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library

د کشمالو به دې باغوان شم — چې هر سهار دې په وریا د یدن کومه
ګلان دې ټول له تا قربان شي — ته کشمالی یې نور سلام درته کوینه
یادې په خوله کې کشمالي دي — یادې د عطرو په چینه لمبلي دینه



(۱۵)تصویر، د پغمان ګلونه



(۱۶) تصویر، د پسرلي ګلونه اوسیند

غاټول به ټول امیل به جوړ کړم — د یار دپاره یې په غاړه ګرځومه
یا د لاله په ګل شبنم دی — یادې د مخ په ستارو خولې راځینه
مخ دې ګلاب سترګې نرګس دي — دې تورو زلفو دې سنبل وشرماونه



(۱۷)تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library

گلاب له اصله شهزاده دی    رامبېل چامبېل یې نوکران نیولي دینه

زما جانان گل د ریحان دی    پاس په آسمان دی ملایکې یې بویوینه



(۱۸)تصویر، د مرسل گل



(۱۹) تصویر، غوزان (چارمغز)

ستا د ښایست گلونه ډېر دي    ځولی مې تنگه زه به کوم کوم ټولومه

## په ټولگي کې فعالیت

- د زده کوونکو چې څومره لنډۍ یادې وي خپلو ټولگیوالو ته دې ووایي.

## پوښتنې

- د لنډیو زمزمه کول له ټنگ ټکور سره همغږي لري که نه؟
- لنډۍ چا ویلې دي؟

## کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د زیاتو لنډیو د زده کولو په خاطر د کور له غړو څخه پوښتنه وکړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# متلونه او مقولې

ستاسو څو متلونه او مقولې زده دي؟

متلونه او مقولې د خلکو د لاسته راوړنو له ډولونو څخه دي چې هم په خبرو او هم په ليکنه کې کارول کېږي. يو شاعر يې په خبروکې ارزښت او اغېز داسې تمثيل کړی دی.

«در مقامي که بُوَد روی کنايه به عَدُو　　　ضرب شمشير ندارد اثر ضرب مثل»

**ژباړه**

په هغه وخت کې چې د کنايې تېره څوکه د دښمن خوا ته توجيه شوې وي د توري ګوزار هغه تاثير نه لري لکه چې د ضرب المثل ګوزارېې لري.

## د متلونو محتوا

متلونه او مقولې د خلکو د ژوندانه د بېلا بېلو اړخونو او د خلکو د عامه ژوند د پېړيو، پېړيو تجربو پايله ده. متلونه او مقولې پند ورکوونکې افادې لري او د خلکو د ژوند تجربې پکې د پند په ډول ترسره کېږي.

دغه دوه هنري او ژبنۍ پديدې د خلکو په منځ کې اوږد تاريخ لري، خو د لفظ او معنا له پلوه توږل شوي، بدلون يې موندلی او ښکلې شوې دي. له دې امله لنډه، جامع او ژوره معنا لري.

## د متل او مقولې توپير

متل ډېر ځله مجازي معنا لري او د ويونکي فکر پکې په غير مستقيم او کنايي ډول وړاندې کېږي. يعنې د ناڅرګند هدف لپاره کارول کېږي او موخه يې د الفاظو ښکاره او مستقيمه سپړنه نه ده. د بېلګې په ډول: « چې نه سيخ وسوزي، نه کباب» د سيخ او کباب له سوزلو ربښتيني معنا څخه يې موخه نه ده، بلکې د يوې پېښې پر دواړو خواو و باندې د ستم او تيري نه کول او عدل کول موخه ده.

خو په مقوله کې د ويونکي موخه د حقيقي معنا بيانول دي. د بېلګې په ډول: «د نن کار سبا ته مه پرېږده» مقولې کې موخه دا ده چې د کار په کولو کې ځنډ مه کوئ! نو له دې امله ويلای شو چې مقولې له متل څخه ساده او هنري خوند او رنګ يې هم لږ دی.

لاندې به څو متلونه او مقولې د بېلګې په ډول راوړو:



(c) ketabton.com: The Digital Library

## متلونه

کوږ بار تر مزله نه رسېږي.

بې عمله عالم، بې شاتو مچۍ ته ورته دی.

پښې له ليمڅي سره وغځوه.

خپله ژبه هم کلا ده، هم بلا.

مار چيچلی له پړي ډارېږي.

گودر گوره، موزې باسه.

له ښو ښه زېږي، له بدو وابنه.

دوست موندل سخت دی، دښمن آسان.

دوست په کلو، نه موندل کېږي ، دښمن په ساعت.

عبدالرحمن بابا وايي:

کوهي مه کنه د بل سړي په لار کې چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي.

## مقولې

له بې عقل دوست نه، هوښيار دښمن ښه دی.

هوښيار دښمن به دې لوړ کړي.

په هر کار کې مشورت بويه! بې مشورې کار ناکامي ده.

لټونکی، موندونکی دی.

**په ټولگي کې فعاليت**

- زده کوونکي دې څو مقولې او متلونه خپلو ټولگيوالو ته ووايي.

**پوښتنې**

- په شعرونو کې د متلونو کارول څه ښېگڼې او ښکلاوې لري؟
- د خلکو په ورځيني ژوند او د ويونکي د موخې د تر لاسه کولو په کار کې د متلونو او مقولو وړاندې کول څه اغېزې لري؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې څو مقولې او متلونه د کور له غړو څخه وپوښتي او ثبت دې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکي لنډيز

ولسي ادبيات د خلکو د عواطفو او د ژوند دلارو چارو او بڼو بيانوونکي دي.

د لنډيو ويل د عامو خلکو بيتونه دي چې ډول ډول عشقي، له دوستانو څخه د بيلتون او د وطن دوستۍ محتواوې لري.

په متلونو کې د ويونکي خيالونه په غير مستقيم او په کنايي ډول بيانيږي او مستقيمه معنا نه لري او په مقوله کې د ويونکي موخه دا وي چې د يوه مطلب حقيقي او مستقيمه معنا او مفهوم بيان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

# جامې او پوښاک

## د دې څپرکي موخې

زده کوونکي به زموږ د خلکو او نیکونو د سنتي او عنعنوي جامو په ارزښت او اهمیت پوهه شي.

زده کوونکي به پوه شي چې زموږ د خلکو د ودونو، جشنونو او اخترونو جامې څه کیفیت لري؟



(۲۰)تصویر، جنکۍ په ملي جامو کې

شپږم لوست

# زموږ د هېواد د خلکو جامې

ستاسو د ولایت د خلکو جامې څه ډول دي ؟

## په کلیو کې د خلکو جامې

زموږ په ګران هېواد کې جامې او کالي د سیمه ییزو او اقلیمي شرایطو له مخې له یوې سیمې څخه بلې ته توپیر لري.




(۲۱) په(نورستان) کې د شپون تصویر




(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلګې په توګه پښتانه په کليو کې پټو، څپلی، کميس او پرتوګ، لونګۍ او واسکټ اغوندي.



(۲۳) تصوير

په نورستان کې خلک زياتره وړينه قاقمه(ګنډۍ)، برک، پکول، چاروق (څرمن)او پا ی تاوه چې ټول پخپله جوړوي، اغوندي.



تصوير (۲۳)، يوه هراتي مېرمن قران کريم لولي

په هزاره ميشتو سيمو او بدخشان کې برک (وړين توکر) او چکمن دود لري. اوزبېکان او ترکمنان ګوپيچه، شلوار، چپن، قاقمه، موزې، ماسۍ اغوندي او په پښتو کوي يې او د هرات خلک له نورو جامو سره واسکټ هم اغوندي.



(۲٤) تصوير، ( د هيواد په شمال کې ) چای خانه



(c) ketabton.com: The Digital Library

په عمومي ډول زموږ د هېواد ټول خلک په لږ توپیر یو ډول او سره ورته جامې اغوندي. لکه:کمیس او پرتوګ، واسکټ او لونګۍ د ټول هېواد په خلکو کې دود دي.

په دومره تفاوت سره لکه چې پښتنې ښځې ګلدوزي کمیس او لوی پرتوګ اغوندي او په ځینو سیمو کې ورسره د پایڅو په برخه کې ښکلي



( )

ګلدوزي شوی (پوچي) هم په پښو تړي.



(۲٦) تصویر، جنکۍ په ملي جامو کې



(۲۷) تصویر، پیخه( قره قلي خولی)



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښاري خلکو جامې


(۲۸) تصویر، ښځې د سودا اخستلو په حال کې


(۲۹) تصویر، جنکۍ په ملي جامو کې

دکابل ښــار او په نورو ښارونو کې د خلکو ملي جامــې عبارت دي له: کميس، پرتوګ، پټو. خو ښــځې ګلداره کميس او سپين پرتوګ اغوندي. ښځې د لمن (دامن) پــه نامه کميس او د ښــوونځيو او مدرســو نجونې ځانګړي کالي، ســپين ټکري، هلکان کرتۍ او پطلون هم اغوندي، خو ټول خلک نارينه، ښــځې، نجونې، هلکان او ماشومان په جشــنونو، ودونو، اخترونو او نورو ځانګړو مراســمو کې ګلداري او ځلېدونکې جامې اغوندي چې ډولونه يې په بېلابېلو درسونو کې راوړل شي.

**په ټولګي کې فعاليت**

- زده کوونکي دې د خپل کلي او ښار د جامو ځانګړتياوې په ګوته کړي.

**پوښتنې**

- د خپل هېواد د مشهورو کاليو نومونه دې واخلئ؟
- د هېواد د قومونو او بېلابېلو سيمو د ځانګړو جامو نومونه دې واخلئ؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې له خپلو کورنيو څخه د پخوانيو جامو په برخه کې پوښتنې وکړي، په خپلو کتابچو کې دې ثبت او له ځانه سره دې ټولګي ته راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

# د واده او کوژدې د مراسمو جامې

ستاسو په ځای کې د واده په شپه ناوې او زوم څرنګه جامې اغوندي؟

د واده دودونه زموږ د خلکو په منځ کې په پوره شور او زوږ جوړېږي. د واده په مراسمو کې د ناوې او زوم لپاره نوې جامې برابرېږي چې د دغو دودونو ځینې برخې دلته راوړو:

## د ناوې او زوم د نکاح جامې



(۳۰) تصویر، د واده جامې

د نکاح د ترلو په مراسمو کې ناوې ته ځانګړې جامې جوړېږي ،چې د نکاح په شپه یې وراغوندي. دغه جامې زیاتره شنې وي چې ناوې له سره تر پښو پټوي. د ناوې بوټونه د نکاح په شپه شنه او یا سپین وي. د نکاح په مراسمو کې زوم ته جامې برابروي. په کلیو کې زوم ته سپینې جامې جوړوي او د کمیسه غاړه یې په ښکلي ډول خامک دوزي کېږي. سربېره پر دې یوه جوړه بوټونه، لونګۍ، خولۍ، یوه کورتۍ او واسکټ هم د زوم لپاره تیاروي او په یوځانګړي دستمال کې مجلس ته راوړل کېږي، چې په ځینو ځایونو کې یې د جومات محترم امام له نکاح څخه وروسته د خلکو په مخ کې زوم ته ور اغوندي.

## د زوم او ناوې د واده جامې

په کلیو کې د زوم لپاره سپینې سیمه ییزې جامې برابرېږي. دغه جامې په معمولي توګه یو ښکلی خامک دوزي شوی کمیس هم لري او له دې جامو سره یو بالاپوش یا کورتۍ، لونګۍ، خولۍ، بوټونه او جورابې هم په خوانچه کې ږدي او د ناوې د ورلو له مراسمو څخه مخکې د سیمې د امام او یا د یو مشر له خوا زوم ته ور اغوستل کېږي. په ځینو سیمو کې یې د زوم خپلوان، دوستان او همزولي هلکان ور اغوندي. د مېره کور ته د ورلو په وخت د ناوې کالي سپین وي او سپینې جامې په نیک فال نیسي، څو ناوې نېکمرغه او سپین بخت ولري. دغه کمیس په معمولي توګه لوی وي او ناوې یې سرتر پایه پوښلې وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳۱) تصویر، د ناوې

د زوم کور ته د ناوې د وړلو په وخت کې شین رنګې شال د ښه نیت په توګه د هغې پر سر اچوي، څو یې ژوند د تل لپاره زرغون او ښکلی وي.

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د واده او نکاح د جامو د نورو ځانګړتیاوو په برخه کې خبرې وکړي.



(۳۲) تصویر، ترکمنه نجلۍ د واده جامو کې

### پوښتنې

- د واده د مراسمو د جامو د نورو ډولونو نومونه واخلئ.
- د هېواد په ولایتونو کې د واده جامو ترمنځ توپیرونه ووایئ.

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه د هغو جامو په برخه چې په تېرو وختونو کې ناوې او زوم اغوستل او دود وو، معلومات ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

# د جشنونو، اخترونو او ځانګړو مراسمو جامې


- ستاسو په سیمه کې خلک په ځانګړو مراسمو کې څه ډول جامې اغوندي؟

زموږ په ګران هېواد کې خلک په ځانګړو مراسمو لکه جشنونو، اخترونو او نورو مراسمو کې ځانګړې جامې جوړوي او اغوندي چې دغه جامې په لاندې ډول دي:



(۳۳) تصویر

د خپلواکۍ د جشن په مراسمو کې زيات خلک ګډون کوي او د خوښۍ د ښوولو لپاره نوي کالي اغوندي. په جشن کې د دولت کارکوونکي هم ګډون کوي. د پوځي پرېډ یا رسم ګذشت په مراسمو کې د اردو او ملي پولیسو سرتېري او افسران له ځانګړو جامو سره د دولتي او نورو خلکو تر مخ د پرېډ په ډول تېرېږي. د ښوونځيو زده کوونکي هم له ځانګړو کالیو او جامو سره په دغه خوښۍ کې برخه اخلي.



(۳٤) تصویر، د سرتېرو رسم ګذشت (کابل)



(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوچني او لوی اختر په ورځو کې خلک خپلې نوې جامې چې مخکې له مخکې يې برابرې کړې وي، اغوندي او دغه کار اسلامي سنت ګڼي. ديني عالمان او سپين ږيري د اختر په ورځو کې چپنې اغوندي. د چپنې اغوستل د ويار نښه ګڼي.

زموږ د هېواد په شمالي ولايتونو کې زياتره خلک چپنې، جبلکې، پګړی، ، پرتوګ او ګلدوزي شوی کميس اغوندي.



(۳۵) تصوير ، دپوهنې زده کوونکي



(۳٦) تصوير، کوچنی نجلی په ملي جامه کې



(۳۷) تصوير



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځانګړو مراسمو جامې

خلک په مراسمو، قومي جرګو او د جمعې لمونځونو کې نوې او پاکې جامې اغوندي. د جامع جوماتونو ملایان د جمعې او اخترونو په لمونځونو کې نوې او پاکې جامې اغوندي. د لونګۍ په



(۳۸) تصویر، د قاضي القضات ځانګړې جامې او د ولسمشر د لوړې مراسم سموبهیر

سرول او د چپنې اغوستل د لمانځه د امامت پر مهال او په محکمو کې د قاضیانو ځانګړې جامې د علماوو په نظر غوره کار دی.

د کندهار، فراه، نیمروز او هلمند ولایتونو کې هغه خولۍ په سرکوي چې یوه ځنډه یې برش شوې او په ډول ډول تارونو سره ګلدوزي او ښکلې شوې وي. په دې ولایتونو کې خلک زیاتره تورې، سپینې او تیز رنګه جامې خوښوي.

په هرات او جلال آباد کې نارینه سپینې



(۳۹) تصویر، یو ځوان دنیالګی کښېنولو په حال



(c) ketabton.com: The Digital Library

خولۍ پر سرکوي چې هغو ته عرقچيني وايي. دغه خولۍ کله له ټوکر او کله هم له تارونو څخه جوړېږي. د هرات په ولايت کې د جامو د ټوکر رنګونه زيا تره نيم رنګه او روښانه وي.

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې د خپلې سيمې د ځانګړو مراسمو د جامو نومونه واخلي.

### پوښتنې

- ستاسو کوم ډول جامې خوښېږي، چې د واده په مراسمو کې يې واغوندئ؟
- ستاسو په نظر کوم ډول جامې له اقتصادي پلوه غوره دي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې له خپلو مشرانو او لويانو څخه د ځانګړو مراسمو جامې چې په پخوا وختونو کې کارول کېدې، وپوښتي او ودې ليکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

# د ماشومانو جامې

ماشومان د کورنۍ د باغ ښکلي ګلونه دي چې ټول خلک ورسره مينه لري او هغوی ته ځانګړې پاملرنه کوي. هغوی ته د ښکلو جامو د برابرولو او وراغوستلو په برخه کې دودونه او رواجونه لري، چې په لنډ ډول بيانېږي، لکه: د نويو زېږېدلو ماشومانو د عقيقې، د اخترونو په ورځو او داسې نورو کې.




(٤٠)و(٤١) تصوير ونه، جنکی او هلکان په ملی جامو کې

په ځينو سيمو کې د کورنيو د لومړني پيدا شوي ماشوم لپاره د هغه نيا څو جوړې ماشومانه کالي، کوچنۍ برستن، کمپله، بالښت، دستمالونه او ورسره نور شيان برابروي. جامې د يوه کوچني ځانګړي مجلس په ترڅ کې د نوي پيدا شوي ماشوم کور ته وړل کېږي.

عقيقه، اسلامي ځانګړې سنت ګڼل کېږي. د ماشوم لپاره په دې مراسمو کې يوه جوړه نوي، ښکلي کالي برابروي او په هماغه ورځ يې ماشوم ته د سنتولو څخه مخکې ور اغوندي. د نويو زېږېدلو هلکانو سنتول اسلامي سنت دی.

د اخترونو په ورځو کې هم د ماشومانو لپاره نوي کالي جوړوي. ماشومان هغه اغوندي او ډېر خوشحالېږي.

زموږ د خلکو يو بل غوره دود دا دی چې د هر قوم مشران شتمن خلک د دې په ترڅ کې چې د خپلو ماشومانو لپاره جامې برابروي د بې وزلو ماشومانو لپاره هم په اخترونو

کې نوې جامې رانيسي چې هغوی هم د اختر په خوښيو کې برخه ولري.


(٤٢) تصوير، جنکۍ او هلکان په ملي جامو کې (مزار شريف)

سربېره پر هغو چې مخکې وويل شول په ځينو دودونو کې د ماشومانو لپاره بخملي واسکټونه او خولۍ، چې په رنګه تارونو او زري تړتو سره سينګار او چرمه کاري شوي وي، جوړوي او هغوی ته يې ور اغوندي. وړې جونې هم چرمداره او زري ښايسته کميسونه له شين رنګه ټيکريو سره اغوندي.

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې ووايي چې د دوی په کور او کلي کې ماشومان کوم ډول جامې اغوندي؟

### پوښتنې

- د ماشومانو لپاره د نورو دوديزو جامو نمونه واخلئ.
- زموږ د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د ماشومانو جامې يو د بل سره څه توپير لري.

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د پخوانيو جامو په باره کې له خپلو مشرانو څخه پوښتنې وکړي، ودې ليکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دريم څپرکي لنډيز

د هېواد په شمالي او شمال ختيځو سيموکې خلک چپن، جېلک، واسکټ، گوپيچه او لونگۍ اغوندي. په سويلي او سويل لوېديځو سيمو کې گل گنډ (گلدوزي)شوي تارين او وړين ډېر ښکلي څادرونه اغوندي. په مرکزي افغانستان او په ځينو شمال ختيځو سيمو کې د وړينې چپنې (چکمن او برک) اغوستل دود دی. په جنوبي سيمو کې د خلکو پا پوښونه، څپلۍ او بوټان او په شمال کې مسحۍ او بوټان دي.

په جشنونو، اخترونو، نوي کال او ودونو کې ماشومان او ځوانان چرمه کاري شوي واسکټونه، دکميسونو د غاړو گل گنډ شوې ښکلې جامې، د پوهنې زده کوونکي او ځينې نور خلک کورتۍ او پطلونونه اغوندي.

په ودونو کې د واده په شپه د ناوې ځړوکی شين او د زوم کور ته د ورتلو په وخت کې سپين رنگ لري.

د څادرۍ اغوستل د ښځو تر منځ کې په ټول افغانستان کې دود دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

# واکمني او سيمه ييزه اداره

## د دې څپرکي موخې

زده کوونکي دې د کورنۍ په ټولنيز او حياتي ارزښت باندې پوه شي او دغه مفهوم دې ښه زده کړې او پوه شي چې کورنۍ دځوانانو دنيکمرغۍ ځاله ده او دټولنې د ښېرازۍ د نظم په خوندي ساتلوکې ډېر ارزښت لري او همدارنګه زده کوونکي دې د قومي جرګو ارزښت او د تاوتريخوالي دپيداکېدو لاملونه وپېژني.



(٤٣) تصوير، د (نورستان) سيمه او اداره



(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

# زموږ د هېواد کورنی توکمیز جوړښت


ـ ستاسوپه سیمه کې کورنی جوړښت څه ډول دی؟

## کورنۍ

کورنۍ د ټولنې لومړنی بنسټ او بنیاد جوړوي. زموږ په هېواد کې کورنۍ له پلار، مور، لورګانو، زامنو ننګیاندو او لمسیانو څخه جوړه شوې ده. زیا تره د کورنۍ د غړو شمېر له لسو تنو څخه زیاتېږي او کله کله په یوه کور کې پنځلس او آن تر شلو تنو هم ژوندکوي. د هېواد په جنوبي او جبوب لویدیځو سیمو کې دغه دود ډېر دی اوآن څو ورونه چې ځانله جلا کورنۍ هم لري، له نورو ورونو او د هغو له کورنیو سره په یوه لویه پخسه یي کلا کې چې له پلرونو څخه ورته میراثي پاتې وي، ژوندکوي. د کورنۍ مشر پلار وی او په زیاتره کورنیو کې مورهم خپل رول لري. زامن، لورګانې او ننګیاندې د پلار او مور تر لاربښونې لاندې کار کوي. کورنۍ نظم په کلیو کې ښه کلک دی. د خوانېښې او د زوی او ننګور په ژوند کې د هغې د لاس وهنو په اړوند زموږ په ټولنه او ادبیاتو کې له ډېرو پخوا زمانو څخه کیسې، طنزونه او حکایتونه شته.

## کورنۍ اړیکې

زموږ په هېواد کې د خلکو ترمنځ ډېرې ژورې او پراخه توکمیزې او ټولیزې اړیکې شته. دکورنۍ غړي د خپل کور لویانو او ټول خلک د قوم د مشرانو درناوی کوي او د هغوی نظرونو ته ارزښت ورکوي. دکورنۍ د مشرانو واک په خپلې کورنۍ او د قوم د مشرانو واک قوم باندې په کلیو کې د ښارونو په پرتله زیات وي. مشران له نورو ډېر واک لري؛ خو په ښارونو او متمد نو مرکزونو کې سره له دې چې مشرانو ته په درنه سترګه ګوري خو د خپل شخصي ژوند په محدوده او چاپېريا ل کې په خپله واک، آزادي او صلاحیت لري.



(٤٤) تصویر، د نورستان د برګمټال کلي

## کلی

زموږ په هېواد کې ښاري ټولنې لږې او کلیوالي ټولنې ډېرې دي. په تېرو وختونو کې په کلیو کې د واکمنۍ او اداري نظام دا ډول و چې هر کلي ( یو ملک، ارباب او یا خان) درلود او دغه مشر به ټولنیزې چارې او قومي لانجې د



(٤٥) تصویر، حشري کارونه



(٤٦) تصویر، حشري کارونه

کلي د نورو سپین ږیرو او مشرانو په مشورو حلولې. د بېلګې په ډول په قومي حشرونو، د ویالو پاکولو، دغنمو لو، نیالګیو کېنولو، د ژرندې د پل انتقالولو او هم د لانجو په حلولو کې به یې برخه اخیسته.

په ځینو سیمو کې به څو اربابان یا ملکان د یو لوی ملک تر واک لاندې وو چې هغه به یې د مخور (سپین ږیرې) په نامه یاداوه. مخور او یا لوی ملک به دخلکو او حکومت ترمنځ دارتباطي پل رول درلوده.

زموږ د هېواد په اسماعیلیه مېشتو سیمو کی له ملک او ارباب څخه پرته به (پیر یا شاه) و او هغه به خلیفه‌ګان درلودل، خلیفه‌ګانو به د پیر په لارښوونه ټولنیزې چارې ترسره کولې.

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د کورنۍ د ښېګنو په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې مشر دې د خپلو بحثونو پایلې نورو ته د ټولګي په مخ کې بیان کړي.

### پوښتنې

- که د کورنۍ بنیاد نه وي، ځوانان له کومو ستونزو سره مخامخ کېږي؟
- د ټولنیزو او اقتصادي چارو په برابرولو کې د قوم د اربابانو او ملکانو رول په څه ډول دی؟
- که کوم کلی یا سیمه ارباب یا ملک و نه لري د هغې کلي یا سیمې خلکو ته کومې ستونزې پیدا کېږي؟

### کورنۍ دنده

- هر زده کوونکی دې د خپلو کورنیو له مشرانو څخه د ملکانو، اربابانو او یا د سیمې د مشرانو د رول په اړه پوښتنې وکړي او ټولګي ته دې راوړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرکه او جرګه

- مرکه او جرګه څه ډول اصطلاحات دي او زموږ په هېواد کې څه ډول تاریخي سابقه لري؟

زموږ د هېواد په ټولو برخو، په تېره بیا په سویلي سیمو کې مرکې او جرګې د قومي او ټولنیزو ستونزو او لانجو د حلولو واک لري. د جرګو غړي تجربه لرونکي سپین ږیري، مشران، ملکان او افسقالان دي، چې په حجرو، دېرو، جوماتونو، د چنارونو او ونولاندې غونډې کوي او د خلکو شخړې او لانجې هوار وي.



(۴۸) تصویر، قومي مرکه

د قبیلې، قوم او مشرانو غونډو ته جرګه ګۍ وایي، چې د اړتیا په وخت کې د قبیلو ترمنځ د کوچنیو لانجو د فیصله کولو لپاره جوړېږي.

کله چې جرګه ګۍ د یوې دعوې پرېکړه ونشي کړای، بیا د لانجې د حلولو لپاره لویه جرګه راغوښتل کېږي. د دغې جرګې غړي قاضیان، د قوم مشران، نرخیان او نور وي.




(۴۹) تصویر، قومي جرګه

په عمومي ډول مرکه یا جرګه د واک او رسوخ له پلوه درې درجې او پړاوونه لري:

۱ـ جرګه ګۍ: د جرګو په دې پړاو کې څو محدود سپین ږیري ګډون کوي او د

دعوې په برخه کې یوازې خبرې اترې کوي.
۲ـ د مرکې دویم پړاو لوی دی چې ګډون کوونکي یې د دواړو لوریو ډوډۍ هم خوري چې دغه پړاو کابو د مرافعې محکمې مثال لري.
په دې پړاو کې د دعوې یو لوری مرکې ته واک ورکوي او بل لوري ته چې واک یې نه وي ورکړی هغې ته «نیمګړی واک» وايي.
۳ـ په دریم پړاو کې نرخیان ګډون کوي او دغه پړاو د خلکو په منځ کې هغه قانوني واک او اعتبار لري، چې هغې ته (جرګه) وايي. جرګه د خلکو په منځ کې غټې دعوې فیصله کوي. جرګه د (تمیز محکمې) ته ورته ده.
جرګه د ستونزو د پېچلتیاوو په تناسب کېدای شي ډېرې ورځې او آن میاشتې دوام وکړي. په دغه جرګه کې ډېرې خبرې کېږي، نظرونه تبادله کېږي او د جرګې په اوږدو کې د دعوې دواړه خواوې د جرګه مارو د ډوډۍ خرڅ او لګښت په غاړه لري.
کله چې موضوع ډېره مهمه، پېچلې او لوبه وي نو د قومونو مشران، نرخیان او په مرکو پوه خلک چې د دعوې دواړو لوریو پورې ځه تړاو ونه لري د ستونزې او لانجې



(۵۰) تصویر، د نورستان سپین ږیري او مشران د جرګې په لور روان دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د فیصلــه کولــو لپاره رابلل کېږي او د دعوې د فیصله کولو لپاره د دعوې له دواړو لوریو بشــپړ واک اخلي او دعوا فیصله کوي، چې دې ته د پښتنو په منځ کې (په توی وړی واک) وایي. دغه د جرگې تر ټولو لوړه سطحه ده چې د هغوی پرېکړه او فیصله هېڅ لوری ماتولی نشي.

## د قومي شوراگانو او جرگو ګټه

په هره سیمه کې د قوم د مشرانو شتون او د مشرانو شورا له لورې د خلکو د لانجو حل او فصل د رســمي، دولتي مراجعــو کار کموي او د خلکو لپاره آســانتیاوې رامنځ تــه کوي. له همدې امله همدا اوس په کلیو، ولســوالیو، ناحیو، ښــارونو او د هېواد په ولایتونوکې دســپین ږیرو شــوراگانې شته چې لانجې او ســتونزې فیصله کوي. د دغو شوراگانو شتون په هغه اندازه گټور دی چې لومړی لانجې او حقوقي مسئلې د رسمي مراجعــو له لورې شــوراگانو ته ارجــاع کېږي، چې د مشــورې او روغې جوړې له



(۵۱) تصویر، د (کابل) ښار کې د روغې جوړې یوه برخه



(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړي حل شي. که دا فيصله
د دعــوې دواړه لوري ونه
مني نو هغه وخت موضوع
رسمي مراجعوته ورسپارل
کېږي.


(۵۲) تصوير، قومي جرګه (د خمکنو ولسوالي)

### په ټولګي کې فعاليت

- هــر زده کوونکــی دې د خپلې ســيمې د واک لرونکو شــخصيتونو په اړه معلومات ورکړي.

### پوښتنې

- د خلکو په منځ کې د قومي غونډو شتون څه ګټې لري؟
- آيا په ځينو مواردو کې قومي غونډو ته واک ورکول کوم زيانونه هم لري؟

### کورنی دنده

- زده کوونکــي دې په تېرو وختونو کې د قومي غونډو د ماهيت په برخه کې د خپلو کورنيو له غړو څخه معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

# د تاوتریخوالي او دښمنیو سرچینې، لاملونه او ماهیتونه


- تاوتریخوالی او دښــمنۍ د ټولنې د نظم د له منځه وړلو په برخه کې کومې منفي اغېزې لري؟

هغه چارې چې زموږ په ټولنه کې کله کله دنظم د له منځه وړلو لامل گرځي، د خلکو په منځ کې تاوتریخوالی او دښمنۍ دي. په دې لوست کې به د دغو موضوعگانو ماهیت اولاملونه په گوته شي.

## ۱_ د تاوتریخوالي او دښمنیو ارونه، لاملونه او ماهیتونه

د تاوتریخوالي او دښــمنیو یو لوی لامل بېکاري او بې علمي ده، بېکاره انســان تل د خپلې منفي بوختیا او رواني ســتونزو د ارضا لپــاره بهانې لټوي. وایي: «له بېکاره، خــدای بېزاره» په ځانگړې توگه هغــه څوک چې بې علمه او ناپوه وي او ځان ځاني هم ورســره مله شي، تکرونه او تاوتریخوالي رامنځته کوي. دا ډول تاوتریخوالی ناڅاپي او غیر ارادي دی.

پــه کلیــو کــې د تاوتریخوالــي یو بل لامل د نورو خلکو د شــتمنیو او ځمکو په زور غصبول دي، او یــا د وچکالــۍ په کلونو کې د نورو خلکو د حقابې په زور نیونه ده چې



(۵۳) تصویر، په شهران کلي کې د ځمکې او به کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library


هر کال په طبيعي ډول د اوبو کولو پر مهال تکرارېږي.

ځينـــي خلک په خپله برخه قانع نه وي، له خپله حقـــه ډېره ځمکه او اوبه غواړي او يا د ناحقه ورا ثت دعوا کوي. يا له هغه ســـره چې په بڼ يا ځمکه کې شـــريک دی، حق نه ورکوي، چې دا هم د تاوتريخوالي لوی لامل دی.

کله کله لومړني سړي ته د پور نه ورکول هم د تاوتريخوالي او جګړې لامل کېږي.

دغه تاوتريخوالی په لومړی ســـر کې لږ وي او ورو ورو ډېرېږي او د اوږدې مودې په دښمنيو بدلېږي.

خو په دې وروســـتيو وختونو کې چې خلکو د کرنې، اقتصـــاد، باغدارۍ، د ښاريو روزل، ســـوداګرۍ، علمي او نورې بوختياوې لاس تـــه راوړې دي او همدارنګه زموږ پـــه ټول هېـــواد کې چې د علم او پوهې وړانګې خپرې شـــوې دي، خلک د تاوتريخوالي په بدۍ او تاوانونو پوهېدلي، نو ځکه د کورنيو او قومونو په غېږ اخيســـتنو او وژنو کې لږوالی راغلی او که کله په لـــږه اندازه او ناڅاپي توګه رامنځته کېږي، نو دواړه لوري د قومي ســـپين ږيـــرو، عالمانو او جرګـــو په پريکړو او يـــا د قضايي او حقوقـــي مراجعو پر پريکـــړو باندې قناعـــت کوي او د جاهليت دورې غير اســـلامي دودونو پسې نه ګرځي.


(٥٤) تصوير، په هرات کې دخواجه عبدالله انصاري مزار

د تاوتريخوالـــي او دعـــواوو د رامنځتـــه کېدو او لامل پـــه برخه کې خواجه عبدالله انصاری(پير هرات) داسې ويلي دي:

«بدانکه رنج مردم در سه چيز است: از وقت پيش مي خواهند، از قسمت بيش



(c) ketabton.com: The Digital Library

مي خواهند و آنِ ديگران را از آنِ خويش می خواهند»

## د تاوتريخوالي پيل

تاوتريخوالــی او ټکرونه لومړی له زيږو خبرو او لفظي مشــاجرې څخه پيل کېږي، او ورو ورو خبره لاس اچولو ته رســېږي. کله چې د دواړو غاړو د غوســې دېگی په خوټېدو راشي له ډېرو، لرګيو او نورو توکو څخه يو د بل پرضدکار اخلي.

د ښېلګې په توګه د اوبو لګولو پر مهال د جګړې وسيله يوم دی او د لو په وخت کې د جګړې وسيله لور دی.

په پخوا وختونو کې به خلکو په جګړه کې ډېر لږ چاکو، ټوپک او نورخطرناک وسايل کارول، ځکه له خطرناکه پايلو يې خبر وو.

په قرآن مجيد کې په دې برخه کې د زغم او عفوې يادونه شوی ده چې وايي:

......و الکاظمين الغيظ و العافين عن الناس...)(العمران ۱۳۴)

ژباړه: ډېر ښه خلک هغه کسان دي چې غوسه زغمونکي او خلکو ته ښښنه کوونکي وي.

په هر حال:

په، جګړه کې غالب او مغلوب هيڅ يوګټونکی نه وي، بلکې ګټونکي هغه خلک وي چې جګړه يې نه وي کړې.

عبدالرحمن بابا په دغه برخه کې څه ښه ويلي دي:

کــر د ګلــو کــړه چــې ســيمه دې ګلزار شــي
اغــزي مه کره چې پښــو کې به دې خار شــي


او خواجه حافظ هم په دې هکله ډېر ښه ويلي دي، چې:



(c) ketabton.com: The Digital Library

درخت دوستي بنشان! که کام دل به بار آرد    نهال دشمنی برکن! که رنج بی شمار آرد


(۵۵)تصویر ددوستۍ دوني تمثیل


(۵۶)تصویر ددښمنۍ دوني تمثیل

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د تاوتریخوالي او دهغه دناوړه پایلو په برخه کې معلومات ورکړي.

### پوښتنې

- د تاوتریخوالي دوام په ټولنه کې کومې ناوړه پایلې رامنځته کوي؟
- د کورنیو ترمنځ پرله پسې دښمنۍ کومې ناوړه پایلې لري؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ له غړو څخه په تېرو وختونو کې د تاوتریخوالي په برخه کې معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي لنډيز

زموږ په هېواد کې د خلکو ترمنځ ټولنيزې او قومي اړيکې په ژوره او پراخه توګه شتون لري. په کليو کې د قوم مشران په خپلو خلکو باندې د ښارونو په پرتله ډېر واک لري.

زموږ د هېواد په سويلي سيمو کې يو شمېر سيمه ييزې ډلې دي چې د قومي او ټولنيزو ستونزو او شخړو د هوارولو واک لري، چې جرګې او مرکې يې بولي.

جرګې د واک له پلوه درې درجې لري:

کله چې د دوو کسو يا دوو قومونو ترمنځ کومه دعوا يا شخړه رامنځ ته شي، نو موضوع همدې قومي غونډو، مرکو او جرګو ته چې د سپين ږيرو، عالمانو او د قوم د مشرانو څخه جوړې شوې وي، سپارل کيږي. څرنګه چې هغوی د دواړو خواوو د شخړې په لاملونو پوهېږي نو ځکه قضيه په ښه توګه سره فيصله کولی شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

# استوګنځایونه، د ودانیو جوړولو مواد، لارې او طرحې

## د دې څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي په هېوادکې د کورونو، کلاګانو، جوماتونو او د عامو ودانیو له بېلا بېلو ډولونو سره چې تاریخي لرغونتیا لري، آشناشي او د اوسېدلو کورونو د جوړولو طریقه او د کورونو جوړولو د اړتیا وړ مواد به وپېژني.

زده کوونکي به د ختینو کورونوځینی ښېګنې وپېژني اوپه هېوادکې به د معمارۍ له سبک سره آشناشي.

زده کوونکي به وپوهېږي چې کاشي کاري زموږ د هېواد د ښکلو هنرونو اوصنعتونو څخه ده او زموږ په ګران هېوادکې لرغونې سابقه لري.



(۵۷) تصویر: دامیر شهید باغ (جلال آباد)


# سمڅې او خټین کورونه

ـ تاسو د استوګنې څو ډوله کورونه پېژنئ؟

زموږ په هېواد کې د استوګنې ځایونه او د اوسېدنې کورونه ډېر ډولونه لري. ځینې یې ډېر ابتدایي او پخواني دي، لکه: سمڅې، غارونه، پر ستنو ولاړ کورونه او داسې نور چې زموږ د هېواد په لرې پرتو سیمو کې دود و او تر اوسه یې لا بېلګې موجودې دي.

## سمڅې

هغه ابتدایي د اوسېدنې ځایونه دي چې لومړنیو انسانانو د خپل ژوندانه د دوام لپاره د غرونو په لمنو کې



(۵۸،۵۹،۶۰،۶۱،۶۲) تصویرونه، د سمڅو ډولونه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړول. دغه ابتدايي کورونه په معمولي توګه تياره، نمجن او وړې دروازې يې درلودلې چې هم انسانانو پکې ژوندکاوه او هم يې خاروي پکې ساتل کېدل. خو کله چې ورو ورو انسانان متمدنه شول، په (لرګيو پوښل شوي او ګنبدي) د ختيني کورونو جوړول يې زده کړل چې لاندې به د هغوی د هريو په برخه کې معلومات ورکړو:




(۶۳) تصوير، په لرګو پوښل شوي کورونه

## ۱ ـ په لرګيو پوښل شوي کورونه

دغه کورونه له خاورو، تيږو، خامو خښتو، پخسو او د داسې نورو موادو څخه جوړېږي. چت يې په دستکو يا لرګيو پوښي. داسې چې لومړي دستکونه د اړتيا په اندازه په کوټو باندې په افقي ډول اچوي، وروسته ورباندې تختې، پوزي، د ونو شاخچې، کڼکې او جارو (کيان او وابښه) اچوي او بيا ورباندې کلکه شوې خټه (غوره ګل) هواروي او له هغه وروسته يې اخېړوي. هڅه کېږي دغه اخېړ ډېر هوار او داسې شيب ولري چې اوبه ورباندې ډنډ نه شي او د دغو اوبو د جاري کېدو لپاره د لرګيو ناوې د بام په څنډو کې ږدي چې د باران اوبه پکې بهېږي.

دغه کورونه د ګنبدي کورونو په پرتله د باران او زلزلې په مقابل کې کلک وي. د دغو کورونو په منځ کې خلک تنورونه هم ږدي او په دې تناره کې په دايمي توګه اور بلېږي او د اور لوګی د کلونو کلونو



(۶۴) تصوير، دلرګو کورونه



(۶۵) تصوير، د لرګو کورونه



(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوږدو کې دکور چت لکه د قبر غونډې کلکوي.

پـه همـدې ډول ددغو کورونو جوړول زموږ د هېواد په هغو سـيمو کې دود لـري چې هلته زلزله او ورښت زيات کېږي.

په لرګو باندې د پوښـل شـو و کورونو چتونه کله په نقاشي شـويو تختو مسطح کوي، دغه کار ماهر نجاران ترسـره کوي او د دغو کورونو نمونې او بېلګې د کابل ښار او ځينو ولايتونو په زړو ښارونو کې لېدلی شو.


ځينې دغه کورونه چې شتمنو او بډايو خلکو جوړ کړي دي، د لرګي ښکلي ورونه او ورسی لري چې په هغې کې د ګل او پاڼو نقشونه په لرغوني سبک سره ډېر ښکلي حکاکي شوي دي.

## ۲_ ګنبدي ختين کورونه

د دغو کورونو د ديوالونو او چتونو په جوړولو کې له خاورو او خټو څخه کار اخيسـتل کېږي. چت يې په ښايسـته ډول په خښتو او خټو پوښـل کېږي او د لا ټينګښت لپاره يې په تشو ځايونو کې وړې تيږې او جغل ورننبلوي. دغو وړو تيږو او جغل ته (آغاز) وايي.

دګنبدي کورونو جوړول يوڅه مهارت او ډېر زحمت غواړي او همدارنګه د دستک پوښه کورونو په پرتله د واورو او باران پر وړاندې يې مقاومت لږوي.

د دې کورونو رواقونه په اخير او کله کله يې په صافو ګچو سره رنګ او ښکلي نقاشي کوي.



(۶۶) تصوير ګنبدي کورونه (هرات)

ختين کورونه سره له دې چې ابتدايي او ساده دي، ځينې ښېګنې او ګټې هم لري. يوه ګټه يې دا ده چې د ګرمـی او يخنی مخه په ښـه توګه نيسي او د ګرمی او يخنـی د نفوذ او تېرېدلـو په مقابل کې ښه مانع دي.

يعنې هغه کورونه نسبت



(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــو کورونو ته چې نن په عصري او کانکريتي ډول جوړېږي، په اوړي کې يخ او په ژمي کې نســبتاً تاوده وي. خو دا هم د يادونې وړ ده چې ختين کورونه دکانکريتي کورونو په پرتله لږ مقاومت لري او نشو کولای ډېر پوړونه ورباندې جوړ کړو. او هم ډېره ځمکه او ځای نيسي.

**په ټولګي کې فعاليت**

- زده کوونکي دې د ختينو کورونو نورې ګټې او زيانونه ووايي.

**پوښتنې**

- کوم ډول کورونه د ژوند لپاره ګټور دي؟
- هغه څېزې چې دکورونو په پوښلو کې اچول کېږي له څه شي څخه جوړېږي؟
- پخسه څه شی دی؟ او کومې ښېګنې لري؟

**کورنی دنده**

- زده کوونکــي دې د هغو بېلابېلــو او ډول ډول کورونو په برخه کې چې زموږ په هېواد کې جوړېږي، معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښېري کورونه

- ستاسو په سیمه کې څوک په ښېري کورونو کې ژوند کوي؟

زمـوږ په هېوادکـې پر ختینو کورونو سـربېره، ښېري کورونه هم جوړېږي، چې په لاندې ډول دي:


**۱ ـ کوډلـه** (**جونگـړه**): دغـه کورونـه بزگران له خسـو، لرگیو او د لرگیو له خادو څخه جوړوي.



(۶۷) تصویر په لیمڅي او گلیم باندې پوښل شوی جونگړه

کوډلې زیاتره د پسرلي، اوړي او منې په فصلونو کې د فالیزونو، درمندونو او دښـتې په آزاده هوا کې په گنبدي یا مخروطي شکل جوړېږي.

**۲ ـ ښېـره**: ښېره هم له تاوشـوو (منحني) ډولـه خادو څخه جوړېږي. دیوالونه یې له مـزو، مزرو او یا له کنډکي څخه جوړوي او سربې په پوزي، کنډکي، خسو او اغزو پوښې او گلیم یا لمڅی پرې غوړوي.



(۶۸) تصویر، ښېره



(۶۹) تصویر، ښېره



(۷۰) تصویر، الاچغ

**۳_ آلاچغ**: هغـه مـواد چـې آلاچـغ ورڅخه جوړوي له کړو شویو خادو، لیمڅي، ټغر او له داسې نورو څخه عبارت دي، په دې ډول چـې ۱۵ تر ۲۰ پورې خـادې پر ځمکه کې منډي او پورتنۍ څوکې یې په ګنبدي ډول سـره یو ځای کوي او ترې او شا او خوا یې پـوزی د دیوال په ډول دروي. سـر یې هم پـه پوزې ټغر او لیمڅي پوښـي. دننه او بهرنۍ برخه یې په (کشـیده ګلیم) او په زوندیو ښایسـته کوي.

**۴_ کېږدۍ**: زموږ د کوچي هېوادوالو ګرځنده کور دی چې له تورو او کلکو توکرانو څخه جوړېږي او په ټینګو او کلکو رسـیو او مېخونو پر ځمکه ټک وهل کېږي او کلکېږي.

یادښـت: د کوچیتوب فرهنګ او دود، همېشـنی مسافرت او ګرځېدل له یوې سیمې نه بلې سـیمې ته او په کېږدیو کې ژوندکول زموږ کوچیو وطنوالو ته ډېر سـخت زحمت او خواري ده.



(۷۱) تصویر، کېږدۍ

**۵_ خـرګاه**: یـو ډول لویه کپـه (کېږدۍ یا خیمـه) ده چې له لیمڅي څخه جوړېږي.

زموږ قرغـز هېواد وال یې په پامیـر (د نړۍ بـام) کې جوړوي او کارترې اخلي.

خرګاه د هغوی د استوګنې دایمي کورونه دي.

**۶_ خیمـه**: خیمـه هم د ګرځنده کوټې یو ډول دی چې په آسـانۍ سـره درول کیږي او په



(c) ketabton.com: The Digital Library

آسانۍ سره ټولېږي. خیمه له جیمي او نورو ډېلو ټوکرو څخه ګنډل کېږي او په کلکو رسیو باندې په هغو لرګینو یا اوسپنیزو موږو سره چې پر ځمکه ټک وهل شوي وي، سپره او درول کېږي. څرنګه چې سپکه ده بارول او نقلول یې آسان دي. په هر ځای کې په ځانګړې ډول په مېلو کې کارول کېږي.

آلاچغ، کېږدۍ او خرګاه په باڼدو کې د مالدارانو د دوبي کورونه دي، ځینې وخت په کلیو کې هم داسې کورونه جوړوي.

په عمومي توګه خس کپه، څپره، آلاچغ، کېږدۍ او خرګاه د زلزلې په وړاندې تر ټولو خوندي کورونه دي.

**۷ _ د لویې جرګې خېمه**: یوه لویه خیمه ده چې په دې کې د لومړي ځل لپاره د



(۷۲) تصویر، د کابل په نړیوال کنفراس کې د هیواد ولس مشر د او یا هیوادونو بهرنیو چارو وزیرانو سره

افغانستان دودیزه (لویه جرګه) ترسره شوه. او له هغې څخه وروسته پکې لوی دولتي، ملي او بین المللي کنفرانسونه دایر شول.




(۷۳) تصویر، د لویې جرګې خېمه

په دې وروستیو کې په هېواد کې د سولې د راوستلو په خاطر د هېواد ولسمشر او د ولسي جرګې استازو، مشرانو، روحانیونو او بهرنیو میلمنو په ګډون په هغې کې د (سولې) جرګه جوړه شوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د خېړي کورونو ښېګڼې ووايي:

### پوښتنې

- د خېړي او آلاچغ ډوله کورونه د هېواد په کومو برخو کې دود لري؟
- هغه خېړې چې د کورونو په پوښلو کې کارېږي له څه شي نه اوبدل کېږي؟
- د خېړي او آلاچغ کورونو ګټې بيان کړئ.

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې له خپلو مشـــرانو څخه د خېــړي جونګړې او آلاچغ ډولو کورونو په برخه کې معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

# غوجلې

- تاسو کله د ځارویو غوجل لیدلې ده؟

زموږ خلکو چې له پخوا څخه ځاروي روزلي دي، د هغوی د ساتنې لپاره یې تل له غوجلو څخه ګټه اخیستې ده. دغه غوجلې له بېلابېلو موادو څخه په ډېرو ډولونو سره جوړېږي چې د قتـن Qutan، کتاره دار، ښېرې، توله، آغیل، اخته خانه، کمند او نورو نومونو باندې یادېږي، په لاندې ډول د هر یوه په باره کې لنډ معلومات وړاندې کېږي.

**۱ _ شپول**: له تیږو څخه جوړه شوې محوطه ده چې په کلیو او بانډو کې د ځارویو (پسونو او غویو) لپاره جوړېږي.

د ځارویو د شمېر په اندازه په دایروي ډول تېږې د یو او یا یو نیم مترو په اندازه یوه د بلې د پاسه ږدي او د تېږو دیوال جوړوي چې په دې کې له تېږو څخه پرته نور هېڅ ډول مصالې لکه خټه، سمنټ او نور ساختماني مواد پکې نه کاروي.

د ننوتلو او وتلو دروازه یې هم له تیږې څخه جوړېږي او سر یې طبعاً خلاص وي.



(۷۴)تصویر



(۷۶) تصویر

**۲ _ سمڅ** : د وریو او وزګوریو (ورغمیو) غوجله ده. د لویې تیږې څنګ ته چې د هغې د لاندې پناه ځای وي، جوړېږي او نورو دریو خواو ته یې د تیږو دیوال جوړوي. ځرنګه چې توله په لړه ساحه کې جوړېږي، ځینې وختونه یې سر په کنکو




(c) ketabton.com: The Digital Library

او لښتو باندې پوښوي.

**۳ـ ځېږه**: په هغو سيمو کې چې ځنګلونه زيات دي، د غرونو، د ونو د وچو لښتو، (ارغوان، زرنګ، ايرغي Erghai، ځيږي او نورو څخه ځېږه جوړوي او د غوجلې شاوخوا وروباندې بندوي. د ننوتلو او وتلو دروازه يې هم له ځېږې جوړوي او سر يې پرانستې وي.

**۴ـ غوجل**: غوجل د څارويو سنتي او پخوانۍ غوجله او د ختو کوټه ګۍ ده. د وتلو او ننوتلو د لرګي دروازه لري. له کوچنۍ سورۍ نه پرته نورې کړکۍ او پنجرې نه لري.
د څارويو د شمېر په اندازه د ديوالونو په څنګ کې ختين آخورونه لري چې په هغو کې وابنه او بوس څارويو ته اچول کېږي.
نر جنګي او بسکرور غوايان په بېله غوجله کې اچوي. معمولاً د پسونو او وزو غوجلې له نورو څارويو جلا وي.


(۷۵) تصوير

**۵ـ اسطبل (چوپتره)**: د آس د اوسېدو ځای دی. د دغې غوجلې يوه خوا پرانستې وي. په اسطبل کې د آخور ترڅنګ د آس د افسار (پړي) د تړلو لپاره د لرګي يو پنډ موږی پر ځمکه ټکوهي چې هغې ته (قازغ) يا د آخور موږی وايي.

**۶ـ کمند**: کمند هغه سرکاري اصطلاح ده چې د حکومت د سورلۍ او د لېږد راليږد د آسونو او کچرو د مجموعې اطلاق پرې کېږي. البته اصلي نوم يې هماغه د اخته خانو مجموعه ده چې په تېرو وختونو کې يې ډېر آسونه هلته تړل او اوبه او دانه يې يوځايي ورکوله. په پسرلي او اوړي کې به د آسونو پاده (کمند) سر تېرو او مېترانو (د آسونو ساتونکو) له وښو نه په ډکو چمنونو کې څرول (پو ول) او چاغول.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**۷ - کتاره**: د دې غوجلې سر هم خلاص وي او هغه د پسرلي او اوړي په فصلونو کې د څارویو د ساتنې لپاره جوړوي. کتارې د ونو له وچو لرگیو او شاخونو څخه جوړېږي.

په غوجل پورې ځینې اړوندې نکتې.

کله چې له څارویو او د هغو له غوجلو څخه خبرې کېږي نو د هغې سره خامخا د پرانگ، شرمښ او د څارویو د دارلو او خوړلو په هکله هم ډېر نقلونه او کیسې ویل کېږي.

د هغه داړونکي لېوه کیسه د خلکو یاده ده چې د ژمي په شپو کې د ساتونکي سپې له غفلت څخه یې گټه پورته کړې او د پسونو غوجلې ته ور ننوتلی، یو پسه یې خوړلی او نورې یې زندۍ کړې او وژلي وو، بیا یې د خولې او غاښونو په واسطه راکښلي یو پر بل یې انبار کړي او د هغوی په سر په آسانۍ سره ختلي او توانېدلی و چې د غوجل سوري څخه ټوپ ووهي او وتښتي.

پورتنۍ ځرگندونې د ساده او دودیزو غوجلو په هکله وې چې په هغې کې د څارویو پاکوالي او نظافت او روغتیاسا تنه ډېره کمه رعایت کیدا ی شي. خو نن ورځ په زیا تره سیمو کې لوېې طویلې جوړېږي چې په هغې کې هم د طویلو او څارویو پاکوالی او نظافت په ښه ډول سره په پام کې نېول کېږي او هم پکې د څارویو د خوړو کیفیت گټور او صحي وي چې د مالدارۍ یا د څارویو د فارم په نامه یادېږي.



(۷۷) تصویر، د غوبائو فارم



(۷۸) تصویر



(۷۹) تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په ادبیاتو کې شــاعرانو او پوهانو د تاریخ په اوږدو کې د پړانګ، شــرمښ او مېږې کیسې، طنزونه او ډېر زیات تمثیلونه بیان کړي دي چې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

په دری ژبه:

«گوسفندی از کلیم الله گریخت　　　پای موسی آبله شد نعل ریخت»

«ترحم بر پلنگ تیز دندان　　　ستمگاری بود بر گوسفندان»


(۸۰) تصویر پړانګ

پر غاښور پړانګ زړه سوی، پر پسونو ظلم دی.

او یا دغه متلونه اومقولې:

میــش و گرگ در یک آبخور آب می خورند (تمثیل عدالــت) مېږه او لېوه په يوآخور اوبه څښې.

دوستی گرگ و اشتر (دوستی بې تناسب) دلېوه او اوښ ملګرتیا.


(۸۱) تصویر، مېږه


(۸۲) تصویر، شرمښ

## په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د هغو نورو غوجلو چې ښاروي پکې ساتل کېږي نمونه واخلي.

## پوښتنې

- شپانه خپل پسونه د شپې له خوا په کوم ډول ځایونو کې ساتي؟
- کوم ډول غوجلې د ښارویو د ساتنې لپاره ګټورې دي؟
- تاسو او ستاسو دوستان د ښارویو د فارمونو د جوړېدو تصمیم لرئ؟

## کورنۍ دنده

- زده کوونکــي دې د کورنۍ له غړو څخه د پخوانیو ښارویو د ســاتنې په برخه کې پوښتنې وکړي او ثبت دې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست

# کلا، برج او د کوترو کوټې

ـ تاسو تر اوسه کومه پخوانۍ کلا او د کوترو کوټه لیدلې ده؟



(۸۳) تصویر، د بلخ بالا حصار

کلا، برج او د کوترو کوټه زموږ د هېواد له زړو او لرغونو ودانیو څخه دي چې زموږ د خاورې او ځمکې د ساختماني او معمارۍ فرهنګ یو ډول تمثیلوي.



(۸۴) تصویر، په بابر بڼ کې د انارو ونې



(۸۵) تصویر، د بابر حرامسراي (کابل)

په پخوا وختونو کې د حصار یا کلا جوړول زموږ په ګران هېواد کې دود درلود. پاچاهانو، واکمنو، او شتمنو خلکو به د ځان د امنیت د ساتنې لپاره لوړې کلا ګانې او مانۍ جوړولې.

کلاګانې هغه کلکې ماڼۍ دي چې لوړ دیوالونه لري او دننه په جلاجلا برخو او کوچنیو کلاګانو او سراچو باندې وېشل کېږي. هره برخه يې د يوه ځانګړي مقصد لپاره جوړه شوې وي او له هغه څخه ګټه اخېستل کېږي.


(۸۶) تصویر، د دارالامان ماڼۍ (کابل)

## کلاګانې، برجونه او پوځي چاوڼۍ

ځینې کلاوې د پاچاهانو، دولتي اراکینو، پوځي افسرانو او سرتېرو د پوځي اډو په توګه کارول کېدلې، چې د هغو په کونجونو کې به لوړ برجونه جوړېدل او څو تنه ساتونکي به له کلاو څخه د ساتلو په موخه هلته کښېناستل. دغه برجونه دايروي شکله او د کلا له نورو ديوالونو څخه يې لوړوالی ډېر و، چې ساتونکي د کلا شاوخوا څاري او دښمن په آسانۍ ليدلی شي.



(۸۷) تصویر، د اختیار الدین کلا (هرات)


(۸۸) تصویر، د بُست کلا او طاق



(c) ketabton.com: The Digital Library


(۸۹) تصویر، د غزني بالا حصار


(۹۰) تصویر، د شهرآرا برج کابل

زموږ په هیواد کې د دغو سترو کلاګانو بېلګې په (بلخ، کابل، غزني، ګردېز، په هلمند کې د بست او په هرات کې د اختیارالدین کلا ګانې دي چې دغه وروستنۍ یاده شوې کلا زموږ د هېواد د هرات ولایت د تیموریانو د دورې (شاهي کلا) وه. دغه تاریخي کلا، ټینګ او لوړ برجونه لري چې له نیکه مرغه په معاصرو دوروکې د چارواکو د پاملرنې له امله د هغې ویجاړ شوي ځایونه بېرته جوړ شوي دي او تر اوسه روغه پاتې ده.


(۹۱) تصویر، د کابل بالا حصار

دغه تاریخي ودانۍ زموږ د لرغوني هیواد د معمارۍ او فرهنګ سترې نښانې دي.

## د کوترو کوټې

زموږ په هیواد کې د نورو لرغونو ودانیو ترڅنګ، چې زموږ د معمارۍ او فرهنګ یوه برخه ګڼل کېږي، هغه د کوترو کوټې دي.

دغه ودانۍ بزګران ددې لپاره جوړوي چې کوترې پکې ځالې وکړي او فضله مواد یې په دغو خونو کې پاتې شي، ترڅو بزګران او کروندګر د کرنې د ځمکو د تقویه کولو لپاره د سرې په توګه ترې ګټه واخلي؛ څرنګه چې د مرغیو په تېره بیا د کوترو فضله مواد د کرنې د ځمکو لپاره د کیمیاوي سرې په پرتله ډېرګټور دي، نو له دې امله زموږ د هېواد په ځینو سیمو او کلیو کې بزګران د کوترو کوټې جوړوي او له هغو څخه ګټه اخلي.

د کوترو کوټې لوړې ودانۍ دي چې د باندنۍ خواوې یې په ښکلو او ظریفو خښتو



(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړې شوې او نقاشي شوي دي او د ديوال په دننه برخه کې يې بېلا بېلې طاقچې برابروي چې کوترې په کې ځالې جوړې او فضله مواد پکې وکړي.

کوترخونې د ځانګړو معمارانوله خوا جوړېږي. په تېره باندينۍ مخه او نقاشي يې يوازې همدغه معماران جوړوي چې دا دهرچا کار نه دی.

د يادونې وړ ده چې د کوترو مالکان يوازې په ژمي کې د کوترو لپاره خوراکي دانه برابروي او د کال په درې نورو فصلونو کې کوترې پخپله په ځمکو کې ګرځي ، خوراک برابروي او لګښت نه لري.

**په ټولګي کې فعاليت**

- زده کوونکي دې د کوترو د هغو کوټو په برخه کې چې که په شاوخوا کې يې موجودې وي نورو ته معلومات ورکړي.

**پوښتنې**

- د کلاګانو ځانګړتياوې بيان کړئ!
- کوترخونې څه ګټې لري؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ له مشرانو څخه د تاريخي کلاګانو په هکله چې په خلکوکې مشهورې دي معلومات ترلاسه کړي، په خپلو کتابچوکې دې وليکي او له ځان سره دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسم لوست

# جوماتونه او کاروان سرایونه

ـ زمونږ د هېواد ترټولو لوی او ښکلی جومات په کوم ولايت کې شتون لري؟


(۹۲) تصوير، د هرات جامع جومات

د جامع جوماتونو، عامه ودانيو، کاروان سرايونو او د مسافرينو د استوګنې ځايونو جوړول زمونږ د هېواد د خلکو د لرغوني فرهنګ يوه مهمه برخه ګڼل کېږي.
دغه ځايونه د تاريخ په اوږدوکې د خلکو د ټولېدو اودکاروانونو د اوسېدو او د مسافرو د استوګنې ځايونه وو چې په دغه لوست کې به په هر يوه خبرې وشي.

## جامع جوماتونه


زمونږ ګران هېواد ته د اسلام د سپېڅلي دين له راتلوخخه وروسته د لمونځونو او د جمعې لمونځونو د ادا کولو لپاره چې د اسلام د پنځه ګونو اساسونوخخه يو اساس دی، جامع جوماتونه جوړ شول.
دغه ودانۍ د اسلامي ځانګړو معماريو په ډول ډېرې ښکلې او


(۹۳) تصوير، د هرات ښار منظره



(c) ketabton.com: The Digital Library


بښایسته جوړې شوي دي. د لوړو برجونو، ګلدستو او د اوچتو منارو لرونکي دي. په پخوانیو وختونو کې لکه د نن ورځې غوندې د وسایلو امکانات او آسانتیاوې نه وې، مؤذن به لوړځای ته ورخاته او آذان به یې کاوه چې غږ یې هرچاته ورسېږي.


(۹۴) تصویر د هرات جامع جومات

جامع جوماتونه د دوه یا زیاتو منارونو سره جوړ شوي دي لکه د هرات جامع جومات چې زموږ په جغرافیایي حوزه کې ساری نه لري، دولس منارونه لري.
د یادونې وړده چې جامع جوماتونو د کاشي کارۍ هنر او صنعت لا ښکلي کړی دی.
همدارنګه دعیدګاه جوماتونه چې د اختر په ورځو کې د خلکو


(۹۵) تصویر د شاه دو شمشیره جومات

د ټولېدو مرکزونه وي زیاتره د ښارونو په شاوخوا کې جوړ شوي دي چې په دغه ځایونو کې د اختر لمونځونه ترسره کېږي. ځیني عیدګاه جوماتونه ښکلي او په زړه پورې ودانۍ لري؛ خو ډېر نور یې یوازې محراب او منبر لري او د هغو له شاوخوا څخه دیوالونه را تاو شوي وي. خلک د عیدګاه جوماتونو په انګړ کې معمولاً د ناجو او نورې زینتي ونې کېنوي او روزنه یې کوي ترڅو له یوې خوا لمونځ کوونکی دغو ونو سیورو ته د اختر لمونځونه ادا کړي او له بلې خوا څخه د جومات د ښکلا او د هوا د پاکوالي سبب وګرځي.


(۹۶) تصویر، دپخوانی عیدګاه جومات

د کابل په ښارکې د دغو جوماتونو له نمونو څخه د حضوري چمن ترخنګ د عیدګاه جومات، د شاه دوشمشیرهٔ ولي جومات، د پل خشتي جومات او داسې نور دي.
د پیغامبرانو، پوهانو، فقیهانو، عارفانو، سیاسي او پوځي شخیصتونو او لویو شاعرانو مقبرې هم په ځانګړې سبک جوړې شوي دي، لکه: په هرات کې د ګوهر شاد بېګم، علي شیر نوایی او د خواجه عبدالله انصاري آرامګاه او دهندوستان د سیسرام په ښارکې دشېرشاه سوري مقبره او داسې نورې آرامګاوې .



(c) ketabton.com: The Digital Library

## رباطونه او کاروانسرایونه

د عامه ودانیو له جملې څخه یو هم رباط دی چې په تېرو وختونو کې د سوداګرۍ کاروانونو او مسافرو له هغه څخه ګټه اخیسته. له یوه رباط څخه تر بل رباط پورې به منزل په پښو یا د څارویو په شا وهل کېده.



(۹۷) تصویر، د بابر شاه په بڼ کې د کاروانسرای نمونه(کابل)

رباطونه د لارو په سر او غیرآبادو ځایونو کې جوړېدل، څو مسافر او کاروانونه د یوې ورځ له منزل وهلو وروسته ماښام هلته واړوي او شپه پکې تیره کړي.

دخلکو د تولېدو د ځایونو له جملې څخه یو بل د کاروانسرای عامې ودانۍ دي. دغه ودانۍ په ښارونو، کلیو، دښتو او میروکې د لارو پرسر جوړې شوي دي، چې د سوداګرو کاروانونه او مسافرین د سفر په لړکې هلته ورشي او په هوساینې سره خپلې شپې تیرې کړي. کاروانسرای ډېرې خونې او پراخه انګر لري. سوداګر او مسافرین په خونو او د هغوی څاروي د کاروانسرای په بېلوساحو کې شپه تیروي.



(۹۸) تصویر، د باغ بابر د کاروانسرای نمونه(کابل)



(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې زموږ دهېواد د نامتو جامع جوماتونو نومونه واخلي.

### پوښتنې

- نن ورځ ســوداګر او مسافرین د کاروانسرایونو او رباطونو پرځای له کومو ځایونو څخه کاراخلي؟
- ستاسو دسیمې مشهورترین جامع جوماتونه کوم دي!

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د کورنۍ له مشــرانو څخــه د پخوانیو رباطونو د نومونو پوښتنه وکړي، پخپلو کتابچو کې دې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست

# کاشي کاري

په پخوانیو وختونو کې د کاشـــي کارۍ صنعت زموږ د هېواد په کومو سـیمو کې دود درلود؟



(۹۹) تصویر، د خاتون گوهر شاد د گنبدې یوه برخه( هرات)

کاشـــي کاري او حجاري ( د مرمرو او رخام) صنعت زموږ د هیواد ښکلی صنعت او هنر جوړوي او اوږد تاریخ لري. ددغه صنعت غوره او ښې بېلگې زموږ د هېواد په گوټ گوټ کې لیدل کېږي.

## په جوماتونو کې کاشي کاري



(۱۰۰) تصویر، د باغ بابر مرمرین جومات(کابل)


زموږ د هېواد د ځینـو جوماتونو یوه ځانگړتیا په هغو کې د کاشي کارۍ د هنر او صنعت کارول دي چې ډېر ظریف، ځـلا لرونکـي او ښـکلي کار پکي شـوی دی. د هرات جامـع جومات او په مزارشریف کې د شاه ولایت مآب روضه یې غوره بېلگې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرات جامع جومات دکاشي کارۍ هنر او صنعت زموږ د هېواد د تيموريانو د دورې د اسلامي معمارۍ يوه ځرګنده، غوره او ښې ساري بېلګه ده چې نړيوال شهرت لري.

د دغه سترو او پرتمينو ماڼيو کاشي کارۍ له باندني څلورو اړخونو ښخه تر سترګو کېږي. دننه ديوالونه او منارونه يې هم کاشيو پوښلي دي او دغه کاشي کاري دومره ډېره ده، چې پرله پسې او دايمي مرمت او څارنې ته اړتيالري.




(۱۰۱) د (هرات) د کاشی کاری تصوير

د هرات له جامع جومات څخه پرته په نورو جامع جوماتونو کې هم کاشي کارۍ شوې دي. د هغو له جملې څخه په کندهارکې د خرقې مبارکې جومات،په هرات کې د ملکه ګوهرشاد بېګم مقبره او د حضرت خواجه عبدالله انصاري (پير هرات) آرمګاه او نورو ځايونو کې کولی شو چې نمونه يې واخلو.

زموږ په هېواد کې د کاشي کارۍ صنعت او هنر تر اوسه هم دوام موندلی او دود دی.

د هرات د ستر جامع جومات په څنګ کې د تاريخي ودانيو د ساتنې د ادارې تر پاملرنې لاندې د کاشي کارۍ



(۱۰۳) تصوير، د ګوهر شاد مزار ( هرات)



(۱۰۲) تصوير، باغ بابر (کابل)



(c) ketabton.com: The Digital Library

او کاشي جوړولو يوه اداره او کارخانه شته چې له يوې خوا د هرات د جامع جومات د کاشيو مرمت کوي او له بلې خوا د کاشي کارۍ د ارزښتمن صنعت د رامنځ ته کولو، راژوندي کولو، پراختيا ورکولو او تکامل دنده په غاړه لري. په هرات کې ( د تاريخي ودانيو د ساتنې اداره) کې د کاشي جوړونې او کاشي کارۍ مسلکي کارپوهان شته چې د توليد ټولې چارې د توږلو، تنظيم او کاشي ګانو نصبول تر سره کوي.


د هرات کاشي کارۍ هم خپل لرغونتوب او پوخوالي ساتلی او همدا اوس نوې لاس ته راوړنې لري. د هغو له جملې څخه د( منظرجهاد) د ځلي بيروني خوا کاشي کاري ده چې په دې وروستيوکې زموږ دګران هېواد د زامنو له خوا د جهاد څخه دساتنې په نيت جوړه شوی او د ډېرو شهيدانو نومونه په کې ليکل شوي دي.

د دغه مانيو او کاشي کاريو صنعت شتون زموږ د هېواد ترټولو نفيس ترينو فرهنګي نښو وياړلې بيلګې ګڼل کېږي.

د هرات او بلخ ولايتونو څخه سربېره دکاشي کارۍ صنعت په استالف او تاشقرغان کې هم دود لري.



(۱۰۴) تصوير، دکاشي لوښي



(۱۰۵) تصویر، د رستم تخت (سمنگان)

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې زموږ د هېواد کاشي کاریو د نورو آثارو نمونه واخلي.

### پوښتنې

- د کاشي کارۍ صنعت زموږ د هېواد په کومو ولایتونو کې ډېر دود لري؟
- زموږ په هېواد کې د پخوانیو تاریخي ودانیو او نویو معماریو ترمنځ څه توپیرونه شته دي؟

### کورنۍ دنده:


- زده کوونکي دې د کاشي کارۍ صنعت او هنر د تاریخي لرغونتیا په برخه کې معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د میناتورۍ هنر

- ستاسو په سیمه کې کومه میناتوري شوې ودانۍ شته؟



(۱۰۶) تصویر، د میناتوري



(۱۰۷) تصویر، د میناتوري

زموږ د هېواد فرهنګي غوره میراث هغه ودانۍ دي چې د میناتورۍ هنر پکې کارول شوی وي. د انځورګرۍ یا میناتورۍ هنر له ډېرو لرغونو زمانوڅخه زموږ په ټولنه کې دود او زموږګران هېواد د تاریخ په یوه ځانګړې زمانه کې لوړو مدارجو ته رسېدلی و. البتــه د هرات د تیموریانو په دوره کې د دغه او نورو ظریفو هنرونو لوړ مدارج ټولو ته ښکاره دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په معاصره دوره کې میناتوري

په معاصره دوره کې هم د دغه هنر نښې نښانې په ځینو جوماتونو، مدرسو او د کنفرانسونو په تالارونو کې ترسترګو کېږي. دغه هنر کله له کاشي کارۍ او کله هم د رنګونو په واسطه په دېوالونو، چتونو او تابلو ګانو کې کارول کېږي او ترسترګو کېږي.



(۱۰۸) تصویر، د میناتوري

استاد کمال الدین (بهزاد) زموږ په هېواد کې د میناتورۍ د مدرسې بې سارې استاد دی چې د «هرات د نقاشۍ د مکتب» په هنر کې نړیوال شهرت لري.

د دغه هنر د معاصرو استادانو له جملې څخه محمد سعید مشعل غوري هروي دی چې په دغه اړخ کې ترټولو څخه ماهر انځورګر ؤ. استاد مشعل د میناتورۍ په برخه کې ډېر شاګردان روزلي دي، چې همدا اوس هم د دغه د هنر لارې تعقیبوي.

د هرات ولایت د مَقَر په ښکلي سالون او د هرات ښار په ستر جامع جوماتونو کې د دغه د کاشي کارۍ او میناتورۍ د ارزښتمنو آثارو ښېلګې لېدل کېږي.
استاد مشعل چې شاعر هم و ځان د بهزاد د مکتب بیا را ژوندی کوونکی ګڼي چې د یوه بیت په ترڅ کې داسې وایي:

اګر از دهر ناشادم؛ ولی زین ره بسی شادم
که من احیاګر رسم نګارستان بهزادم


(۱۰۹) د میناتوري تصویر


## زموږدهیواد د میناتورۍ د هنر بېلګې

د میناتورۍ هنر زموږ د هیواد په عمومي ودانیو لکه د هرات ستر جامع جومات، د مزارشریف په ښارکې د شاه ولایت مآب روضه او د ځینونورو ولایتونو په ودانیوکې تر سترګو کېږي.

د دغو قیمتي آثارو ډېره برخه د زیاتې تاریخي لرغونتیاڅخه برخمنه ده. په همدې ډول قلمي انځورګري په ډېرو ځایونو لکه خواجه عبدالله انصاري (پیرهرات) د مقبرې ترڅنګ کې د زرنګارکور، د هرات ولایت سالون چې د استاذ مشعل غوري اثر دی اوپه نوروځایونوکې شتون لري.



(۱۱۰) د میناتورۍ تصویر



(۱۱۱) د میناتورۍ تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱۲) تصویر سنگ هفت قلم

## په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکـي دې د میناتـورۍ د هغو آثارو نومونـه واخلي، چې زموږ په هیواد کې شته دي،

## پوښتنې

- «سـنګ هفت قلم» زموږ د هیواد په کـوم ولایت کې ده اوکوم هنر په کې کارېدلی دی؟
- د میناتـورۍ پـه هنر کې په خپل ځای کې د هر رنـګ پیژندنه او کارونه څه ارزښت لري؟

## کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې دخپلو دمشـرانو څخه دکاشي کارۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي، په خپلو کتابچو کې دې ولیکي اوټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي لنډيز

زموږ ګران هېواد افغانستان د استوګنو کورونه ډېر ډولونه لري چې له پخوا څخه دود دي. ځينې يې ډېر محقر او ابتدايي دي لکه: سمڅې او ځينې په لرګيو پوښل شوي او ګنبدي کورونه دي.

نور ډولونه يې څپري کورونه دي چې ديوالونه او بامونه يې د کڼکو له څپرونو څخه اوبدل شوي وي چې د ونو او د کڼکو له څانګو څخه جوړېږي.

زموږ په هېواد کې کپه، خيمه، خرګاه او کېږدۍ يو ډول نور کورونه دي چې ځينې يې د لرګيو له خادو، کلکو پړو، پنډو ټوکرانو او ليمڅيو، ټغر او له کشيده ټغرو څخه جوړېږي.

کلاګانې، برجونه، کاروانسرايونه او جوماتونه له پخوانيو او لرغونو ودانيو څخه دي، زموږ د هېواد د ودانيو د فرهنګ او معمارۍ وده او ظريفه بڼه تمثيلوي چې د کاشي کارۍ او ميناتورۍ صنعت او هنر پکې په ډېر مهارت سره کارول شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

# په سیمه او په هېواد کې لېږد رالېږد

## د دې څپرکي موخې

زده کوونکي به پوه شي چې د انسان په واسطه د درندو بارونو پورته کول او وړل د هغوی دمعلولیت سبب ګرځي. همدارنګه زده کوونکي به په دې مطلب پوه شي چې د نن ورځې په لېږد رالېږد کې که څه هم آسانتاوې رامنځته شوې دی خود وسایطو په ذریعه د لوګیو، آوازونو او په پایله کې د ژوند چاپېریال دککړتیا د پیداکېدلو سبب ګرځي. د څارویو په واسطه دبارونو په لېږد رالېږد کې دژوند چاپېریال نه ککړېږي؛ خو دلېږد رالېږد سرعت سست او کم بار نقلوي.



(۱۱۳) تصویر، ګل شوې ټانګه

شلم لوست

## د انسانانو په واسطه لېږد رالېږد

- د انسان په واسطه د بار لېږدولو رالېږدولو په اړه څه پوهېږئ؟

د بار او شیانو په لېږدولو کې د سیمه ییزو دودونو له جملې څخه د انسانانو په واسطه لیږد رالیږد دی چې زموږ د هېواد په ځینو سیموکې تر اوسه پورې په ابتدایي ډول دوام لري او د نوي ټکنالوژۍ له پرمختګ سره سره هم خلک په پوره ډول نقلیه وسایط په لاس کې نه لري.


(۱۱۴) تصویر

هماغسې چې سپک او درانده کارونه په لاسونو تر سره کوي بار هم، په لاسونو، سر، اوږو او شا باندې وړي.

د اوبو، خوراکي توکو، د سون توکو او د کرنې د محصولاتو لېږد رالېږد انسانانو له ډېر پخوا څخه تر نن ورځې پورې په ډېرو وختونوکې پر خپلو اوږو تر سره کړي دي او له یوه ځایه یې بل ځای ته وړي دي؛ لکه لرګي، بوټي او خس چې یې د سون لپاره له غره څخه کورته راوړي دي.


(۱۱۵) تصویر

زموږ د هېواد با غیرته ښځې او پېغلې له غره څخه بوټي، د چینو او ویالو، له ګودرونو څخه د مسینو او ختینو اوبو ډک دیګونه او منګي په شا، سر او اوږو باندې کورته راوړي، له نقلیه وسایطو څخه درانه



(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱۱۶) تصویر

بارونه او مالونه زموږ د ځوانانو، سرېو، او هلکانو په واسطه ښکته او پورته کېږي. همدارنګه ځيني کليوال شاوخوا شل کيلو بار له لرې ښارونو څخه کورته په شا راوړي، شپې او ورځې پلې منزل کوي او د خپلې کورنۍ د ژوند د اړتيا وړ لومړني توکي لکه چای، بوره، وريجې او نورشيان کورته راوړي. همدارنګه په کروندو او کرځايونوکې د بارونو لېږد رالېږد د انسانانو په وسيله له پخوا څخه دود لري. زموږ د هېواد بزګران ډېر با همته دي اوپياوړې متې لري. دوی غنم، جوار، وريشې، شفتل اونورې غلې دانې راټولوي، ګېډې ترې ترې او په اوږو او شا يې درمندونو او يا کورنو ته وړي. په دغه کارونوکې زموږه غيرتي او مېړنۍ ښځې او نجونې هم له نارينه وو سره تل ملګرې اومرستندويه دي.

**په ټولګي کې فعاليت**

- زده کوونکي دې د انسانانو په واسطه د لېږداو نقلولو موارد بيان کړي.

**پوښتنې**

- د انسانانو په وسيله د بارونو لېږد رالېږد څه ګټې او څه زيانونه لري؟
- په هغه سيمه کې چې تاسو ژوندکوئ، کوم خلک په کوم ډول خوراکي، د سون توکي او اوبه کور ته وړي؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې د کورنۍ له مشرانو څخه د بار د لېږدولو د لارو چارو په برخه کې چې له پخوا څخه زموږ په هېوادکې دود دي، پوښتنې وکړي، پخپلو کتابچو کې دې وليکي، او ټولګی ته دې راوړي.

یو ویشتم لوست

# په لومړنیو وسایطو سره لیږد رالیږد

- په هغه سیمه کې چې تاسو ژوند کوئ د بار لیږدونه د کومو وسایطو په وسیله تر سره کېږي ؟

د انسانانو د خوراکي او نورو موادو او د اړتیا وړ توکو لیږد رالیږد له ډېر پخوا څخه تر اوسه پورې د یوې لومړنۍ اودایمي مهمې اړتیا په توګه په بېلا بېلو ډولونو دود درلوده.

زموږ په هیواد کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د بارونو د لیږدولو لپاره ډېرې وسیلې موجودې دي؛ د بېلګې په ډول دغه لومړنۍ واسطه چګینه، جاله (ټل) د سیند اوبه او کوتره دلته یادولای شو.


(۱۱۷) تصویر، چیګنه

## ۱_ چګینه

د بار د لیږدولو یوه واسطه ده چې د غنمو سترۍ، وابښه او نورې غلې د لوکولو او ربېلو څخه وروسته یې د کروندې څخه د درمند یا ترکوره پورې لیږدوي.

## د چګینې جوړښت

دوه پنډې کندې چې کابو دوه متره اوږدوالی لري او د کلکو لرګیو او خادو په واسطه سره کلکېږي او کراچۍ ته ورته ده خو ټایرونه نه لري. ټایرونه یې هماغه د لرګیو کندې دي چې ورو ورو ښوېږي او د بار په وړلو کې آسانتیا را منځته کوي.

چګینه د دوو ژغ شویو غویانو په واسطه چې د هغو په غاړو کې یې اچولي وي کشول



(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱۸) تصویر، تَل

کېږي. د بدخشان ولایت د راغ په سیموکې د دې لپاره چې زیاتره غرونه یې تیټ او خاورین دي له غرونو څخه دغه لېږدرالېږد دچګینه په واسطه ترسره کېږي.

## ۲_ جاله


جاله یوه کوچنۍ او ساده ډوله بېړۍ ده چې انسانان، څاروي او بار د سیند له یوې غاړې څخه بلې غاړې ته وړي. دلیړدولو دغه سیمه ییزې واسطې ته د هېواد په ختیځو او سهېلي برخوکې جاله اوپه شمالي سیموکې ورته (تِل) او (kema) وايي.



(۱۱۹) تصویر، د بدخشان د راغ دسیند دپاسه دکجاوې تل (هوایي زانګو)

په تِل کې له څلورو لرګیوسربېره، چې پنډې او کلکې تختې یې پرمخ میخ شوې دي، څو خیګونه(مشکونه) له هوا ډکوي او لاندې یې ترې ترې ترڅو ډوبه نه شي. هغه قوي کېبل چې د وارو څنډو ته د سیند په دوارو خواوکې پرمېخ کلک شوی دی د بار په لېږد رالېږد او د جالې د ډوبېدو د مخنیوي په کارکې مرسته کوي. له دغې وسیلې څخه د بدخشان ولایت دکوکچې سیند د آلتینچیلر په سیمه کې او د کونړ ولایت، سروبي او د ننګرهار په بېلا بېلو سیموکې ترې خلک ګټه اخلي. ځینې وختونه له کجاوې څخه هم د هوایي جالې یا زانګو کار اخیستل کېږي.

## ۳_ د سیند اوبه ، دلېږد رالېږد د واسطې په توګه



(۱۲۰) تصویر، په سیندکې د لرګو چار تراشې


خلک په ځینو برخو لکه نورستان، فرخار، کشم، یمګان، زردیو، سر غلام او نورو سیمو کې د سیندونو له اوبو څخه د لېږدرالېږد وسیلې په توګه کار اخلي.

پــه دې ډول کله چې ځوک وغواړي دســتک(لاړي) او لرګي له پورته ســیمو څخه لاندې سیموته ولېږدوي، هغه په ســیندکې اچوي او د سیند اوبه له خپل بهیر سره سم لرګي کوزې خواته لېږدوي او په هغه ســیمه کې چې یې وغواړي له اوبو څخه یې د باندې باسي.

## ۴_ لیک وړونکې کوتره

په پخوا وختونوکې پاچاهانو او ســلاطینو د پوځي اوسیاســي موخو لپاره له کوترې څخه د پوسته رسان(ډاک) په توګه کار اخیسته.

په دې ډول چې یوه کوتره به یې له خپلې ځالې له یوه ښاره بل ښار ته یو وړه او ساتله به یې. د بېلګې په توګه له هرا ته به یې کابل ته کوتره راوړه او کله به یې چې وغوښتل یو مهم او عاجل خبر له کابله د هرات ښار ته په چټکۍ ورسوي، نو خبر به یې په کوچني کاغذ کې ولیکه او د کوترې په پښه



(۱۲۱) د لیک وړونکې کوترې تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library

کې به يې وتاړه او خوشې به يې کړه. ددې لپاره چې کوتره په طبيعي ډول تل د خپلې ځالې په لور الوزي. له دې امله کوتره به له کابل څخه د هرات پر لور الوته او ځان به يې ځالې ته رساوه او کله به چې هلته ورسېده نو ليک به يې ورله له پښې خلاصاوه او لوسته به يې. په دې ډول به يو مهم خبر د کوترې په واسطه ژر رسېده.

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې دخپلې سيمې دلېږد رالېږد دواسطو په هکله له يوبل سره خبرې اترې وکړي او وروسته دې دهغو وسايطو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

### پوښتنې

- چګينه څه ډول واسطه ده او د بار په لېږدولو کې څومره آسانتيا وې راوړې؟
- نن سبا ليکونه او خبرونه په څه ډول لېږد ول کېږي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د لېږد رالېږد د پخوانيو واسطو نوم، چې اوس يې دود لږ شوی دی، د کورنۍ له مشرانو څخه وپوښتي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څارویو په واسطه لیږد رالیږد

- تاسو کله په کچر یا آس سپاره شوي یاست؟

زموږ د هیواد خلک له پخوا زمانو څخه تراوسه د لېږد رالېږد کارونه د حیواناتو په وسیله سرته رسوي. په مسافرتونو، د کرنې محصولاتو او سوداګرۍ مالونو په لېږد رالېږد کې له غوایانو،خرو،اوښانو، کچرو او آسونو څخه کار اخلي. په دې لوست کې د لېږد رالېږد په دغو وسایطو خبرې کېږي.



(۱۲۲) تصویر د پېښو د لېږدولو وسیلې

## ۱_ غوایي او غژګاو

که څه هم غویان له ډېر پخوا څخه د غوبنو، شیدو او ځرمنو لپاره ساتل او روزل کېږي، خوله دغو څارویو څخه د ځمکې په یوې کولو، د چګینه کشولو، دګانۍ(جوان) ګرځولو، سورلۍ او باربرۍ کې هم کار اخیستل کېږي؛ لکه چې تاسو یې په دې عکسونوکې وینئ.



(۱۲۳) تصویر، خلک د غژګاو په شا باندې(پامیر د نري بام)



(۱۲۴) تصویر، په غویانو باندې د ځمکې قلبه کول

## ۲_ خر


(۱۲۵) تصویر، کلیوال خلک د خره پرشا

له ډیر پخوا زمانو څخه بار وړل او سورلۍ زموږ په هیواد کې په خرو باندې دود وه او ترنن پورې دوام لري. د خره بل نوم درازګوش هم دی. زموږ په فرهنګ کې د خره په اړه ډېرې کیسې، طنزونه او ټوکې شته لکه:

پرخر سپرېدل یو عیب دی او کوزېدل یې بل عیب. یا: آس یو وار لغت وهي، خر، بیابیا. یا لکه په دري ژبه کې چې وایي:

گوش کربفروش گوش خربخر
گوش خربهتر بُوَد ازگوش کر.

## ۳_ کچر


(۱۲۶) تصویر، قچرې

کچر د چابکۍ مهارت له آس او د بار وړلو پیاوړتیا له خره څخه په میراث اخیستې ده؛ کچر تر ټولو غښتلی بارووړونکی حیوان دی. له پخوا زمانو څخه خلکو له هغې څخه په بار وړلو او سورلۍ کې ګټه اخیستې ده او ددې لپاره چې ډیر غښتلی حیوان دی، نو په پخوا وختونو کې به ترې په سرکاري کمندونو، پوځي لښکرو او جنګي قطعاتو کې کار اخېستل کېده. « سرکاري کچرې دې و تورولې» مشهور متل دی.


(۱۲۷) تصویر، دکوچۍ جنۍ

## ۴_ اوښ

دچاخبره د دښتو او میرو دغه کښتۍ د تاریخ په اوږدوکې د انسان ملګري او مرستندویه ده. اوښ یو قانع ښاروی دی چې اغزي خوري او بار وړي. کله چې اوښ احساس وکړي چې اوږد سفر

يې په مخ کې دی، نوخپله ګېډه له اوبو ډکوي او د سفر په اوږدوکې ورو ورو له هغو څخه ګټه اخلي. له دغه غښتلي اودنګ څاروي څخه په باروړلو او سورلی کې ګټه اخېستل کېږي. اوښ کينه ناک څاروی دی. د ((اوښ کينه)) زموږ په فرهنګ کې ډېره مشهوره ده.


(۱۲۸) تصوير، سينګار شوی اوښ

زموږ دهېواد په ځينو سيمولکه قرقين، کلدار، اندخوی او آقچه کې اوښان په پوپک لرونکو غاليو سينګاروي. دوه کجاوې په ګلدارو شالونو ښکلې کوي او په ځانګړي ډول يې په اوښ باروي. ناوې او ناوې ته نږدې دوه ښځې د واده په ورځ پر فرش شوو کجاوو کې کښېنوي اوله ټنګ ټکور سره يې د زوم کره وړي. زموږ دهېواد په سويلي سيموکې دغه دود هم ډېردی.


لکه څنګه چې د ناوې د وړلو په وخت کې دغه ښکلې سندره هم وايي چې پيل يې داسې دی:

که... جاوې، آشاليلا ورو. آ... آشاليلاورو

دغه کجاوې د هودج په څېردي چې په تېرو وختونوکې؛ د اوښ، پا فيل، په واسطه لېږدول کېدې.

دفيل ځانګو هم د هود جونو يو ډول دی.

## ۵_آس


(۱۲۹) تصوير، ناوې په ډولۍ کې

آس ښکلی څاروی دی چې ډېر ډولونه لري؛ لکه د وزلوبې آس، د نيزه بازۍ آس، پيګه آس، د سورلي آس، يابو آس او نور. د وزلوبې له آس څخه د سورلی لپاره هم ګټه اخيستل کېږي؛ هغه په ښکلو يراقونو، زين، نقره کوف لجام يا پايه ګلدوزي شوي شال او ياليو شونوباندې ښکلی کوي او ورباندې سورېږي. په کليوکې په



(c) ketabton.com: The Digital Library

ودونوکې ناوې او زوم په دوو سـینګار شو و آسونو باندې سپروي او د ساز او نغمو سره ناوې د پلار له کوره د زوم کورته وړي.


(۱۳۰) تصویر

په تاریخ کې نامتو آسـونه تېرشوي؛ لکه: د ((رستم رخش))، د ((عوض خان قیر په نامه آس))، د آشـورمد (عاشورمحمد)،کتُک Katuk آس او داسې نور.

له آس څخه د ګاڼـې (جواز)په ګرځولو، د ارهټ په تاوولو، په ځپرکولو، بار وړلو، درمندونو میده کولو، سورلۍ، ګاډۍ چلولو او نورو کارونو کې ګټه اخیستل کېږي.

## ګلداره بګۍ (ګاډۍ)

په پخوا وختونوکې د کابل، مزارشـریف، هرات، کندهار، کنـدز، غزني، جلال آباد، تالقانو، او زموږ د هېواد په نورو ډېروښـارونوکې ښـکلې بګۍ وې. د دوی د آسونو په سر او غاړو به ګنګریګان او ښکلې ځوندې ترل شوي او سینګارشوي به وو. په داسې حال کې چې په دې ګاډیو کې به ځوکسـه سـپرېدل، په ډېره منډه او تیزۍ سـره به یې کش کولې. آسـونه رشـقې، شوتل، بوس، اوربشـې او نور وابنه خـوري او پرتـه لـه دې چې د ژونـد چاپېریال ککـړ کړي، تل خدمت ته چمتو او تیاردي.


(۱۳۱) تصویر (ټانګه)

وایـي: کلـه چې زمـوږ د هېواد د خوږ ژبي شاعر(شـایق جمال) آس بـوس نه خوړل، نو هغه یې په سـترګو شنې عینکې



(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۲) تصویر

ور وتړلې چې سپین بوس ورته شنه ښکاره شـي او په هغو د شنې رشقې خیال وکړي، او وې خوري.

زموږ د هېواد په ډېرو ښارونوکې تر اوسـه هم د سـورلۍ او باروړلو لپاره له گاډۍ څخه کار اخلي. په پخوا وختونوکـې به يې د آسـونو څخه په جګړوکې هم کار اخیسـته او سواره نظام اردو به تل په پلې نظام اردو برلاسۍ درلود او د لښکر په سرکې به يې حرکت کاوه .

## ډاک او ډاګې

په پخوا وختونوکې حکومتونو له آسـونو څخه په (چاپار) او پوسـته رسولوکې کار اخیسته؛ داسې چې په هر یام (د آسونو د روزنې او ساتنې ځای) کې به څو آسونه په ټاکلو فاصلوکې هر وخت زین شـوي اوتیار ولاړ وو، کله به چې چاپار خپلی پوستی سره، په چټکـۍ له مخکني یامـه، دې یام ته نږدې کېده او د آس په غاړه به يې زنګولې تړلې وې، نو غږ به يې له لرې څخه یامچی اورېده او مخکې له مخکې به پرخپل آس سـپرېده او د لارې ترڅنګ به درېده او له رارسـېدو سـره سم به يې له هغه څخه خورجینه آخیسته، د خپل آس پر شا به يې ترله او آس به يې قمچین کړ.



(۱۳۳) تصویر ایلچي

آس به په منـډو پیل کاوه اوخپل ځان به يې په ډېرې چټکۍ بل ((یام)) ته رسـاوه. په دې ډول ټولـو یا مچیانو به لاره په خپلو زین کړو او چمتوشـویو آسونو سـره وهله او د پوسـتې په وړلو کې به ټولو برخه اخیستله او پوسته او نامه به يې بې له ځنډه او ډېر ژر



(c) ketabton.com: The Digital Library

او په چټکۍ سره مقصد ته رسوله.

**په ټولګي کې فعالیت**

- زده کوونکي دې په خپله سیمه کې دلېږد رالېږد کارکې له ځاروېو څخه دګټې اخیستنې لارې چارې ووایي.

**پوښتنې**

- اوښان په څه ډول دي او چټک او ښان څه نومېږي؟
- آسونه په څه ډول دي؟
- که له ځاروېو څخه نن سبا په بارورلوکې ګټه واخیستل شي څه ګټه او څه زیانونه لري؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې دکورنۍ له غړو او نورو مشرانو څخه دځاروېو دلېږدرالېږد په کارکې د پخوانۍ ګټې اخیستنې چلندونو په هکله پوښتنې وکړي او په خپلو کتابچوکې دې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دروېشتم لوست

## په پرمختللو وسايطو سره لېږد رالېږد

- تاسوڅو ډوله موټرپېژنئ؟ تراوسه په الوتکه کې سپاره شوي ياست؟


د لېږد او رالېږد د اړوند وسايطو په اړه په تېرو درسونوکې تاسوته معلومات بيان شول او له پخوا څخه د خلکو په مينځ کې دود و، ساده و، خو ښېګڼه يې داوه چې د ژوندانه چاپېريال يې نه ککړاوه؛ حمل شوي مواد لږ اوسرعت يې هم کمزوری او سست و.

همدارنګه انسان چې د ژوند په ټولو برخوکې د تجدد، نوښت چټکۍ او ډېر غوښتونکی دی، د ليږد رالېږد په برخه کې هم په دې فکر کې و، داسې وسيلې او واسطې جوړې کړي چې هم دهغو په وسيله ډېرباريوسي او هم يې آساني او چټکتيا ډېره وي. په دې موخه يې کراچيوته ټايرونه جوړکړل چې په لومړيوکې ساده وو او ورو ورو بشپړشول، څو ننني پرمختللو وسايطو ته يې لاس رسی پيدا کړ.

هغه وسايط چې انسانانو تراوسه پورې جوړ کړي دي، په لاندې ډول دي:

### ۱_ دلېږد رالېږدځمکني وسايط

زنبيل (يوټاير، دوه ټايره لرونکې) لاسي کراچی، بايسکل، ډول ډول موټرسايکلونه،




(۱۳۴) تصوير، ماهي پر

رکشـــا،لوی او واړه د باروړلـــو ډول ډول موټرونــــه لکه: فلاینگ کــوچ، میني بوس، کاســـتر، سروېســـونه، والگا،کــرولا، بینز، فیات،فولکــس واگن، لیموزین، ســوزکي، برقـــي موټرونه، د اوبـــو او تېلو ټانکرونه، پوځي وســـایط، زغـــره لرونکـــی او چاین لرونکی نظامي ټانکونه، د اوســـپنې پټلۍ ( ریل، اورگاډی) او داسې نور.

(۱۳۶،۱۳۵) و(۱۳۷)تصویرونه د موټرو ډولونه










(۱۳۸) تصویر، په یو موټر سایکل باندې اوه کسان



(۱۳۹) تصویر



(۱۴۰) تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۲_ سمندري لېږد رالېږد توکي (وسایط)


(۱۴۱) تصویر، په دریاب کې لویه کشتی

دلېږد رالېږد بله مهمه وسیله بېړۍ ده چې له بده مرغه زموږ په هیوادکې د سیندونو او بحرونو د نشتوالي له امله له هغې څخه ګټه نه اخیستل کېږي.

## ۳_ هوايي لېږد رالېږد وسایط

مسافروړونکې الوتکې، پوځي چورلکې، تېزې جنګي جټ او ډول ډول نورې الوتکې چې له غږ څخه یې چټکې زیاته ده او همدارنګه نورې الوتکې چې ځینې یې مسافرین په هوسا توګه له یوه ځای څخه بل ځای ته لېږدوي او ځینې الوتکې د پوځي موخو لپاره په کارېږي.


(۱۴۲) تصویر، د منار جام په خواوشاه کې هلیکو پتر

په عمومي توګه د نن ورځې د لېږد رالېږد وسیلو لوګې، لوړ او کېوونکي غږونه د انسانانو داستوګنې چاپېریال نا آرامه او ککړوي.



(۱۴۳) تصویر، د آریانا الوتکه



(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعالیت

هر زده کوونکی دې دننیو پرمختللو وسایطو په برخه کې خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.

### پوښتنې

- د لیږد رالیږد پرمختللي وسایط د انسانانو په ژوندکې څه مثبت او منفي اغیزې لري؟
- دلیږد را لیږد څمکنیو واسطو کومې آسانتیاوې منځ ته را وړي دي؟
- د الوتکو څخه کوم کارونه اخیستل کیږي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د بېړیو او الوتکو د ډولونو په برخه کې معلومات ترلاسه کړي او په بل درسي ساعت کې دې ټولګی ته راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي لنډيز

په سيمو او هېوادکې د بارونو ليږد رالېږد

زموږ په ګران هېوادکې اوس هم ځينې خلک پيتې په خپل سر، اوږه او په شا باندې وړي او همدا رنګه د نورو لومړنيو وسايلو څخه لکه: چيګنه، او تړل (جالي) څخه هم د پېټو په ليږدولو کې کار اخلي.

پخوا د ودانيو د لرګيو په ليږدونه کې د سيند له اوبو او د خطونو په استولو کې له کوترو څخه کار اخيستل شوی دی.

زموږ په هېوادکې د پيټو د لېږد او نقلولو عمده وسيلې اوس هم ځينې ځاروي لکه: غوايي،آس، قچر او اوښ دي. د ټکنالوژۍ په وده او پرمختګ سره نن ورځ زموږ خلک له ماشيني وسيلو څخه هم کار اخلي چې د ځمکنيو وسيلو ډولونه يې لکه موټرونه او يا د هوايي واسطو د الوتکو ډولونه ډېر دي؛ خو دا وسايط د ژوند چاپېريال ککړوي په ځانګړې توګه کله چې ډېر زاړه او ورا سته وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

# لوبې او ورزشونه

## د دې څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي د محلي لوبو د ډولونو او د هغې د سرته رسولو په څرنګوالي او د ورزشونوله ډولونوسره بلد شي. د ورزشونو د ډولونو ارزښت اوګټې به وپېژني.

زده کوونکي به د محلي لوبو د دودونو په ارزښت اومقصدونو او د هغې په فرهنګي ارزښت وپوهېږي.

زده کوونکي به هغه ورزشونه چې روغتیا ته زیان رسوي وپېژني او د سیالیو په مزایاوو باندې چې په نړیواله سطحه ترسره کېږي، وپوهېږي.

دلوبو د سرته رسولو له لارې زده کوونکوته دیوالي او مرسته کولو روحیه منځ ته راځي.



(۱۴۴) تصویر وزلوبه



(c) ketabton.com: The Digital Library

څلرویشتم لوست

# سیمه ییزې لوبې

- ستاسو په سیمه کې کومې لوبې دود دي؟

سـیمه ییزې لوبې بیلابیل ډولونه لري چې له ډېرو پخوا زمانو راهیسې زموږ دهیواد په گوټ گوټ کې، د ځوانانو، ځلمیانو، نجونو او هلکانو په منځ کې دود لري. چې ځینې یې په لاندې ډول دي:


(۱۴۵) تصویر، کوچنۍ جنۍ د ټال د زنگلو په حال کې

بو!بو! گل چې؟، اله داد، چندرۍ، سـیلوی (جزنک بازی) اکوبکو، غېږنیول؟ سپین هډوکي، ډې (ډنډه کیلک) پای پران، کاغذپران، سـترگه پټونی، توپ ډنډه، خوسی، د غره څخه ښـکته رابښویدل یخمالکي، لیوه او پسه، ډبلۍ لوبه، ټنډه خره (چرې غوړې)، تیږه غورځول، پیشه کان، ټال خوړل، غولکی ویشتل، نښـه ویشتل، دکاڼي ویشتلو سیالي، منډې وهل، ډول ډول توپ بازي، لامبو وهل اونور...


(۱۴۶) تصویر، هلکان او لیندۍ



(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۴۷) تصویر، د هېواد د اهل هنود و د لرگي لوبه

## دلوبو موخې او گټې

په بشري ټولنه کې د هرې لوبې رامنځته کېدل او دودېدل د یوه هدف او مقصد لپاره دی. ځینې لوبې هغه مهارتونه دي، چې د خلکو په ورځني ژوندکې څه ناڅه آسانتیاوې رامنځته کوي؛ لکه نښه ویشتل، ټوپ وهل، منډې او داسې نورې.

ځینې لوبې د بوختیا او تفریح لپاره وي. انسانان دسترپاو د له منځه وړلو لپاره هغه لوبې او فعالیتونه سرته رسوي، چې خوښي او خوشحالي راوړي.



(۱۴۸) تصویر، د چوگان لوبه



(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په هیواد کې لوبې ډېر ډولونه لري چې تاسو دهغې ډېرشمېر پېژنئ، خوبیا هم دلته ځینې سیمه ییزې مشهورې لوبې تاسو ته درپېژندل کېږي:

## خوسی (لګد جنګ)

له اتوڅخه تر لسو تنو هلکان یا زلمیان پکې ګډون کوي.

د لوبې د ترسره کېدو لارې چارې: لومړی زلمیان د دوه میرانو ترمشرۍ لاندې په دوو ډلو وېشل کېږي.

یو پاک، پراخ او هوار میدان، چې تیږې او نور شیان ونه لري، د لوبې لپاره غوره کېږي. میدان په دوو برخو وېشل کېږي. د میدان د کرښو په شاکې ځایونه ټاکل کېږي او په یوې خواکې د خاورو یوه ډېرۍ جوړېږي. دغې ډېرۍ ته د یوه ګروپ یوتن درول کېږي چې هغه ډېرۍ څوک ورانه نه کړي. د خاورو دغه ډېرۍ باید دمقابل ټیم د یوه تن له خوا ورانه شي، خو دغه ډېرۍ قوي او پیاوړی ساتونکی لري. دې کس ته خوسی وایي. د خوسي لوری (ګروپ) غواړي چې مقابل لوری وسوزي. که چېری مقابل لوری بریالی شو چې د خاورو ډېرۍ ورانه کړي نو یوه نمره اخلي؛ د هرې ډېرۍ ورانول یوه نمره لري. او که چېرې خوسي وسو نو هماغه ګروپ بدلېږي. د دغه کار لپاره بل ګروپ غوره کېږي. په دې ډول دغه لوبه دوام کوي. د خوسي لوبه ډېره ستړې کوونکې لوبه ده. په یوه پښه ترسره کېږي، باید لوبه کوونکی خپله پښه دشا له خوا په یوه لاس ټینګه کړي او



(۱۴۹) تصویر، لګد جنګ(خوسی)



(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ســیال ته په جګړه ورشي. دغه لوبه په اوږه او په یوه لاس ترسره کېږي. خپل سیال په زنګانه اړوي او وهلی یې هم شــي. دغه لوبه دومره په زړه پورې اوســتړې کوونکې ده چې له یوســاعت وخت یادوه ساعته زیات دوام کولی نه شي او یویادوه نوبته دواړو مخالفو ډلو ته رسېږي او پس له هغه څخه لوبه پای ته رسېږي.

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې په خپلو منځوکې د خوسي د لوبې دکولو په هکله خبرې وکړي.

### پوښتنې

- د خوسي سیمه ییزه لوبه څنګه تر سره کېږي؟
- کومې لوبې او ورزشونه روغتیا لپاره ګټه او کومې لوبې زیان لري، لینده (غولک) څنګه ده؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکــي دې د ډول ډول لوبــو دګټو پــه هکله خپل نظرونه او معلومات په مفصل ډول سره ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

# لامبو وهل

ستاسو څه ډول لامبوزده ده؟

لامبو وهل د ځوانانو د دودیزو لوبو او ورزشـــونو یو ډول دی. دغه لوبه او ورزش ځانګړی ارزښـــت لري. زیاتره هغه خلک له لامبو وهلو ســـره بلد وي چې کورونه یې د سیندونو یا لویو ویالو غاړو ته نږدې پراته وي.

لامبو وهل له تفریح څخه برســـېره د انســـان روغتیا او سلامتی ته ډېره ګټه لري. لامبو وهل ډېر ډولونه لري چې دهریو زده کول یې پوره تمرین او ډېر وخت غواړي.

د لامبو وهلو دودیز ډولونه په لاندې ډول دي:



(۱۵۰) تصویر، لامبووهل

قولاچه، چونګشي(بقه یي) ته ورته، د ښو، شا په تخته، د تختې له پاسه،مشک و الا، په‌کدو ســـپور او نور؛ لکه چې وموویل لامبو وهل هغه لوبه ده چې ډېرمشـــق، تمرین او لازم مهارت غواړي؛ له دې امله ځوانان تل په ډله ییزه توګه لامبوکوي چې د ډوبېدو د خطر



(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱۵۱)تصویر، انتر کانتیننتال هوتل (کابل)

د پیښېدو پر مهال له یوبل سره مرسته وکړي او یوبل وژغورلای شي.

دیا دونې ورده چې په تېزو اوبو او گرداو ونو کې باید له لامبو وهلو څخه ډډه وشي؛ په ځانگړې توگه هغه څوک چې لامبو وهلوکې ښه مهارت ونه لري، باید چې له لامبو وهلو څخه ډډه وکړي.

زیاتره ژوي له لامبو وهلو سره بلددي. په ډېرو اوبو او ژورو سیندونوکې، پرته له دې چې ډوب شي، په آسانۍ سره لامبو وهي او له اوبو څخه تېرېږي.

یادونه

کله چې څوک وغواړي د آس په سپرلۍ له لویو سیندونو څخه چې ژور وي، تېرشي، دتېرېدوپرمهال د آس رکابونه راټولوي او د زین پرسر(قاش) یې اچوي او آس په ډېرې آسانۍ سره لامبو وهي او له اوبو وځي. څوکه رکابونه لکه پخوا غوندې ځوړند وي، دلامبو وهلو پرمهال د آس پښې د رکابونو په منځ کې بندېږي او آس لامبو نشي وهلی چې په هغه وخت هم آس او هم سړی دواړه په اوبوکې ډوبېږي. د لامبو وهلو سیالۍ به پخوا دکابل په ښارکې د بابر شاه بڼ او باغ بالا په حوضونو کې جوړېدې. د اوبو ژوروالي به د ډنډ (حوض) په هره برخه کې توپیر


(۱۵۲)تصویر، بند امیر(بامیان)



(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود یعني له یوه متر څخه نیولې تر څلورو او پنځو مترو پورې ژوروالی یې درلود. د ډنډ په منځ کې له یوه ســره بل ســر ته قوي کېبلونه غځېدلي او کلک شوي وو او د سترِ یــا پرمهال به ځوانانو او واتر پول کوونکــو لوبغاړو هغه کلک نیول او دمه به یې کوله چې ډوب نشي.

همدارنګه د قرغي بند، د سیستان جهیل، د باغ بالا حوضونو او په بند امیر کې به هم د لامبو لوبې او د کښتۍ چلولو سیالۍ تر سره کېدې.

موږ دلته د اوبو په اړه څو متلونه راوړو.

- اوبه ترستونې، زوی ترپښو لاندې.
- اوبه په ډانګ نه بېلېږي.
- د زورور اوبه پورته درومي.
- دري: آب نادیده موزه کشیدن خطاست.



(۱۵۳) تصویر، د باغ بالا هوټل او رستورانت( کابل)



(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې دخپلې سیمې د لامبو وهلو د دود په برخه کې معلومات ورکړي.

### پوښتنې

- لامبو وهل څه ګټه لري؟
- که څوک دلامبو وهلو مهارت ونلري او لامبو وهي دکوم خطر سره مخامخ کېږي؟
- څاروي څه ډول لامبو وهي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د لامبو د نورو ډولونو په هکله د کورنۍ له مشـــرانو څخه پوښتنه وکړي، په کتابچوکې دې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

## غېړنیول (پهلواني)

- تاسو تر اوسه پورې د پهلوانۍ یا غېړې نیولو ننداره کړې ده؟

زموږ په هېوادکې د ورزش او غېړنېولو بېلا بېل ډولونه دود لري چې د هغو له جملې څخه چینکي، مخامخ غېږ او پهلوانۍ نومونه اخیستلای شو.

دلته به د بېلګې په توګه د غېږ په غېږ او چینکي غېړنیونې تاسوته د روپېژندل شي.

- **غېږ په غېږ**

پهلواني یا سیمه ییزې غېړې زموږ د هیواد له لرغونو دودونو څخه دی چې زموږ د خلکو د فرهنګ یوه برخه ګڼل کېږي. سیمه ییزې غېړنیونې تاریخي او ملي ارزښت لري او ټول خلک له هغو سره مینه لري، آن سپین ږیری سړي چې که د غېړنیونې توان هم ونه لري، خو د غېړنیونې په مراسمو کې د نندارې لپاره هرو مرو ګډون کوي.

د غېړنیونې لوبې زیاتره د خوښۍ او خوشحالۍ په ورځوکې ترسره کېږي.

لکه: په نوي کال، اخترونو او د جمعو په ورځوکې. دغه لوبې د ځانګړو قواعدو او اصولو تابع وي چې د هغو پر بنسټ جوړېږي. دغه لوبې په هغه ډګرکې ترسره کیږي، چې نندارچیان په یوه لویه دایره کې له پهلوانانو چار چاپېره ناست وي او د لوبې ننداره کوي. غېړنیونې لوبه د دوو پهلوانانو ترمنځ ترسره کېږي. د پهلوانانو د مبارزې بهیر کله ساعتونه اوږدېږي او له دواړو خواوو څخه یوهم نشي کولی پربل برلاسي شي.

هر پهلوان د غېړنیونې پرمهال یو پټو تر ملا تړي. څوسیال یې له هغه کمربنده ونیسي او مقابل لوري ته ګوزار ورکړي. پهلوانان د دغو غېږو په بهیرکې یوازې په لاسونو او پښو سره خپل زورونه آزموي او د بل لوري ملا او متې راکاږي او په خپلو پښو د پهلوانۍ چلونه تر سره کوي، هربودا حق نه لري چې په خپلو لاسونو د سیال پښې ونیسي او یایې غاړه تاوه کړي.

په پخوا وختونو په کابل ښارکې ډېر نامتو پهلوانان وو چې د نړیوال المپیک په لوبوکې یې ګډون کاوه او ویاړنې مډالونه یې ځان او هیوادته ګټلي دي. لکه: پهلوان نظام، د ریکاخانی رحیم، پهلوان ابراهیم، پهلوان احمدجان، پهلوان رحیم زرګر، پهلوان شجاع او نور. . .

## چینکي غېږ نیونې

چینکي غېږ نیونی هم زموږ د هېواد د سیمه ییزو لوبو له ډلې څخه ګڼل کېږي. دهغه د جوړېدو لاره داسې ده چې دواړه پهلوانان وړینې قاقمې اغوندي. لنګی تر ملا تړي او په ډګرکې په مبارزه پیل کوي. دواړه لوري به هڅه کوي چې یو پر بل یرغل وکړي او یو بل له ګریوان څخه ونیسي او کش یې کړي، «سغري ګردان» وکړي په اوږه یې واړ وي او یا یې په زنګون واخلي او پرېبنو یې، په کوشک (لغته) ووهي او ډېر کوښښ کوي څو خپل سیال پرځمکه وولي او پر شایې څملوي. ځکه د سیالۍ وړلو شرط پرځمکه د مقابل لوری پرشا چپه کول دي.

کله چې یو بل په دې ډول پرځمکه څملوي او د میدان مشر دا ومني، نو ملاستی (لویدلی) پهلوان بایلونکي او هغه بل ګټونکی ګڼل کېږي.

د میدان مشر چې په خپله تجربه کار پهلوان وي هم قضاوت کوي او هم د پهلوانانو د سیالیو په وخت کې له سرغړونې او ناندریو څخه مخنیوی کوي.

په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د غېږ نېولو ډولونه بیان کړي.

پوښتنې

- تاسو د پهلوانی څو ډوله سیالۍ پېژنئ؟
- زموږ د هېواد په کومو سیمو کې سیمه ییزې غېږ نیونې دود لري؟
- په لېسه او یا ستا سو په ټولګي کې داسې ځوانان شته چې پهلوانی کوي؟
- د کابل ښار پخواني نامتو پهلوانان څوک وو؟

کورنی دنده

- زده کوونکي دې د خپلو کورنیو له غړو څخه د سیمه ییزو غېږنېونو د سیالیو په برخه کې معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه ویشتم لوست

# په بېلا بېلو لوبوکې ملي ټیمونه

- زموږ په هېوادکې څو ډوله لوبې دود لري؟

له ســـیمه ییزو لوبو سربېره چې له پخوا څخه زموږ په هېوادکې د خلکو په منځ دود وې، رسمي او نړيوالو لوبو هم دود درلود.


(۱۵۴)تصویر، پهلوانی


(۱۵۵)تصویر، فوتبال


(۱۵۶)تصویر، جیدو


د افغانستان دکرکټ ملي لوبډله دکرکیټ په حال کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په هېوادکې دوديزې رسمي لوبې زياتې دي او په هره برخه کې ځينې ځوانان ځلېد لي دي. هغه بدني لوبې چې په ډله ييزه او کله هم د دوو سيالو ډلو ترمنځ ترسره کېږي او زموږ په هېوادکې دود لري، په لاندې ډول دي: فوټبال، فوتسال، د ( چمن پرمخ او د کنګل پرمخ) هاکي، واليبال، هندبال، باسکټبال، بايسکل ځغلول، غره ته ختل، کرکټ، ساکر او داسې نور.

هغه لوبې چې په دوو تنو ترسره کېږي لکه: پنګ پانګ، ټېنس، بد منټن، او نورو څخه عبارت دي. همدارنګه زموږ په هېوادکې نورې لوبې لکه: تکواندو، بوکس، کانفو،کراته، جيدو، هوشو پهلواني، ضرب ميل، کيک بوکس او نور دي.

زموږ په هېوادکې يو شمېر نور درونډ وزنه ورزشونه دود لري چې ډېر زور غواړي لکه: وزن پورته کول، پرې کشول، وزلوبه، تېره اچول، آس ځغلول او نيزه بازي.


(۱۵۷)دبليارد تصوير


(۱۵۸)تصوير، واليبال



(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۵۹) تصویر، غرختونکی ځوان


د پهلوانۍ لوبه چې زموږ په هیواد کې ډېره لرغونتیا لري، همدا اوس یې رسمي بڼه نیولې او د سیمې په کچه ددغه لوبې ځینې پهلوانان پېژندل شوي دي.

هغه لوبې چې په یوازې ځان ترسره کېږي او یو لوبغاړي خپل استعداد او ځواکمني ښکاروي، په لاندې ډول دي لکه: د نېزې، ګلولې او دیسک اچول، د ګلف لوبه او نور.

په غرونو کې د ګرځېدلو لوبه هم زموږ په



(۱۶۰)تصویر، باسکتبال



(۱۶۱) تصویر، د وزن پورته کول



(۱۶۲)تصویر، دټینس لوبه



(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد کې دود ده. د هېواد ډېر ځوانان په ډله ییزه توګه د لوړو غرونو سرونو ته خېژي.

یادونه: ډېرې لوبې د انســان د روغتیا لپاره ګټورې دي، خو ځینې یې روغتیا ته زیان او خطر هم لري چې د بدن غړو ته درنه ژوبله پېښــېږي او په اوږده موده کې د بدن غړي معیــوب او له منځه ځي لکه: وزن پورته کــول، وزلوبه، تېږه (ډبره) غورځول، بوکس، او نورې رزمي لوبې.

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د نورو لوبو او ورزشونو نومونه واخلي.

### پوښتنې

- ورزش څه ګټې لري؟
- کوم ډول نوښتونه د ورزشونو له پرمختګ سره مرسته کولای شي؟
- آیا تاسې او یا ملګري مو په پام کې لرئ، چې کومه ورزشي ډله جوړه کړئ؟
- تاسو په کومه لوبه کې استعداد او وړتیا لرئ؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د نورو نړیوالو ورزشــونو په هکله له نورو سرچینو څخه معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړیوال المپیک په لوبوکې زموږ د هېواد د لوبغاړو بریا او لاس ته راوړنې

تاسوپوهېږئ چې زموږ ځوانانو په ۲۰۰۸ م کال کې د تکواندو په ورزش کې غوره مډالونه هېواد ته راوړل.

افغانســتان د المپیک نړیوالې کمیټې غړیتوب لري. د لومړي ځل لپاره زموږ د هېواد لوبغـاړو پــه ۱۹۳۶ م کال د برلین د المپیک په لوبو کــې ګډون وکړ. له هغه مهاله تر اوسه پورې یې یو ولس ځلې د المپیک په دوبنې لوبو کې ګډون کړی دی.



(۱۶۳) تصویر انعام ګټونکی ځوان

له هغو ســتونزو سره ســره چې په وروستي لســیزو کې زموږ په هیواد کې موجودې وې، په هغو لوبو کې چې زموږ لوبغاړو ګډون کړی دی، ښــې نتیجې یې ترلاسه کړې دي. د ۲۰۰۸ م کال په لوبو کې چې په اندونیزیا کې ترسره شوې زموږ د هېواد څلورو پهلوانانو په کې ګډون کړی و چې یو د سرو زرو او یو د برونزو مډالونه تر لاسه کړل.



(۱۶۴) تصویر مدال ګټونکی ځوان

پــه ۲۰۰۸ م کال د چین د المپیک په لوبوکې زموږ لوبغاړي بریالي شول چې د تکواندو په لوبه کې د لومړي ځل لپاره په تاریخ کې ښــه مډال ترلاسه کړي. همدا شان زمــوږ د کرکــټ ټیم پــه ۲۰۰۸ م کال د امریکــې په نیو جرسي، بریتانیا، تانزانیا او آسیایي لوبو کې لومړی مقام ترلاسه کړ.

زموږ د هیــواد د ځوانانو د فوټبال ټیم د نړیوال جام او آســیایي ټاکنیــزو او مقدماتي لوبوکې د ســیمې د ځواکمنو هېوادونو پر وړاندې ښه وځلېدل. که څه هم



(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ هېواد ونه شــو کولی چــې د خپلې ګروه څخه پورته وخېژي خود خپلو ســیالانو په وړاندې دلوبډلې د بنــولوبو په ترســره کولو، دهیواد په دننــه او بهرکې دکار پوهانو دستاینې او ددې لوبډلې دمینه والو دهیلو سبب شو.

نورو ورزشونو هم زموږ په هېوادکې د پام وړ پر مختګونه کړي دي.

**ورزش او بي ساری بریالیتوب**: زموږ یو هیواد وال پر بایسکل باندې له تولې نړۍ راتاو شو او دغه سفرېې د بهرنیو چارو له وزارت څخه پیل کړ اودکابل – کندهار د ســړک له لورې هرات او وروســته ایران ته ولاړ. دغه سفریې یونیم کال وخت ونیو. په دغه موده کې د ایران، ترکیې، بلغاریې، یوګو ســلاویا، اتریش، چک، جرمني، هالنډ او د فرانسې له هېوادونو تېرشو، امریکا او د ملګرو ملتونو د سازمان مقرته ورسېد.

په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې زموږ د هېواد د لوبغاړو د نورو ورزشــي بریاوو په برخه کې معلومات ورکړي.

پوښتنې

- زموږ د لوبغاړو ورزشــي بریاوې په سیمه او د نورو هېوادونو په منځ کې څه ارزښت لري؟
- د نړۍ کوم هېواد په نړیوالو لوبوکې ترټولو لوړ مقام لري.

کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د نړۍ د تر ټولو غوره لوبغاړو په برخه کې لیکلي معلومات ترلاسه کړي او په بل ساعت کې دې له ځانه سره راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

داوو م څیړکي لنډیز

## لوبې او بدني روزنه

سیمه ییزې لوبې بېلابېل ډولونه لري چې زموږ د هېواد په ګوټ ګوټ کې په ماشومانو، تنکیو ځوانانو او ځوانانو کې له پخوا څخه دود دي.

لامبو وهل زموږ د ځوانانو سیمه ییزه دود یزه لوبه ده چې د هغوی د روغتیا او سلامتۍ لپاره ډېره ګټوره ده .

غیږ نیول زموږ د هېواد د سیمه ییزو لوبو او ورزشونو یو ډول دی چې اوږده سابقه لري. د سیمه ییزو ورزشونو څخه پرته د سیمې او نړیوال ورزش هم د ځوانانو ترمنځ دود لري. لکه: فوټبال، کرکټ، هاکي، والیبال او داسې نورې لوبې.

## اخځلیکونه


۱ـ پوهاند دکتور محمد افضل بنو وال، دکابل پوهنتون استاد، فولکلور شناسي، لومړی چاپ ۱۳۸۷ کابل. انتشارات سعید.

۲ ـ پوهندوی دکتور سید اکرام الدین حصاریان، دکابل پوهنتون استاد، دماسټرۍ دورې درسي کریکولم، دژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ هـ .ش کال.

۳ـ اسدالله شعور، ترانه های کهسار.

۴ـ دخلکو تفکر، دکتور عارف عثمان او عبدالحمید عاطف، چاپ دپښتو څېړنو نړیوال مرکز، دافغانستان دعلومو اکاډیمي.

۵ـ ضرب الامثال او حکم، ضرب المثلونه، دکتور عنایت الله شهراني دکابل پوهنتون دښکلیو هنرونو دپوهنځی پخوانی استاد.

۶ـ د انټرنټ نه تصویرونه

۷ـ جرګه، دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت خپرونه، شپږدېرشمه ګڼه، ۱۳۸۸ کال وری ـ غویی ـ لېندۍ ـ مرغومی ـ تله ـ لړم.

۸ـ جانښ، د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت، خپرونه ۱۳۸۹، په نورستاني ژبه د ذکر شوي وزارت خپرونه- سرطان- سنبلې- جدي- حوت خپرونه.

۹ـ دتیبوکلتور او فرهنګ، لیکوال محقق بسم الله حقمل، دویم چاپ جدي ۱۳۸۳ هـ. ش حلیمي پرینټینګ ایجنسي.

۱۰ـ دتصویرونو تهیه او عکاسي، دملي ګالرۍ، ملي آرشیف، دکابل لرغوني ښار، دبابرشاه بن، دنوي ښار دانتیک فروشی دکانونه، د پغمان چندل بایي څخه

۱۱ـ هرات دیروز، امروز، مجید فدائیان، رضا نظري آهاري، ددیپلوماسی دتاریخ او اسنادو مرکز، دپسرلي لومړی چاپ ۱۳۸۵.

۱۲ـ فصلنامه فرهنګي وپژوهشي دفرهنګ او ځوانانو د وزارت خپرندویه تولنه. شماره اول سال ۱۳۸۵ هـ ش.

۱۳ـ دپېچ درې دپښتنو ولسي دودونه، غلام سرور ګلاب زی صافی ۱۳۸۶ هـ .ش.

۱۴- د انترنت څخه عکسونه.

۱۵- فرامرز، سیدعبدالله، یادداشتونه.





(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**